د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# رغونه

اونیزه
د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د ذوالقعدې ۱۲ مه، ۱٤٤٦ هـ.ق کال
غویی/ثور ۲۰ مه، ۱٤۰٤ هـ.ش کال

لومړی کال، پرله پسې ۱۳مه ګڼه

## په دې ګڼه کې لولئ:

کندهار — کندهار ښاروالۍ کې د احمدشاهي جادې د مسیر، سروې او ډیزاین په اړه تخنیکي مجلس ترسره شو

غزني — غزني ښاروالۍ له لورې د خواجه بهایي جان اغا د سړک د کانکرېټ چارې ۹۰ سلنه بشپړې شوې

پکتیا — د بالادې منګل اباد کانکرېټي سړکونو جوړولو چارې مخ په بشپړېدو دي

مزار شریف — د مزارشریف ښار ۵مې ناحیې کې د یو سړک کانکرېټ اچولو چارې ٪۵۰ سلنه پرمخ تللې

هرات — کار آسفالت لایه اول لین شمال سرک تانک مولوی الی پل جبرئیل در شهر هرات آغاز گردیده است

پروان — شاروال چاریکار از جریان کار پروژه کانکریت‌ریزی سرک فرعی نظارت به عمل آورد

خوست — خوست ښار دویمه ناحیه کې ۱٦۰ کثافاتدانۍ ځای پر ځای شوې

بغلان — پلخمري ښار کې د بیارغونې کارونه بیا ځلي شروع کېږي

زابل — د قلات ښاروالۍ له لورې د زرغونتیا هڅې چټکې شوې

اروزګان — ترینکوټ ښاروالۍ لخوا ښار څخه راټول کړې ٤۷۰ قلمه تر وخت تیر خوارکي توکي او درمل وسوځول

هلمند — د خلورمې حصې د بندو لارو د خلاصولو چارې دوام لري

جلال اباد — د ننګرهار ولایتي ادارو لپاره د اداري کمپلکس د ځای د انتخاب په موخه ابتدایي سروې ترسره شوه.

## بازسازی پارک تفریحی افغان-ترک در ناحیه هفتم شهر مزارشریف آغاز گردید




## غزني ښار د قلعه امیرمحمد خان په سیمه کې د ۱٦ میلیونو افغانیو په ارزښت ۲ د سړک جوړولو پروژې پیل شوې




## مزارشریف ښار کې د ۳۵ میلیونه افغانیو په ارزښت څلور پرمختیایي پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



## د جلال اباد ښــاروال قاري بســم الله بلال د مارکېټونو تنظيم امريت له ښاري پولیسو سره لیدنه وکړه




جلال آباد ۱

د جلال اباد ښــاروال قاري بلال د ښــاروالۍ د مارکېټونو تنظيم امريت اړوند ښاري پوليسو سره د ښاري نظم، دسپلين او ورځنيــو کارونو د ښهبود په موخــه لیدنه وکړه او په ښلابېلو برخو کې يې لازمي لارښوونې وکړې.

د جلال اباد ښــاروال د ښاري پوليسو له لوري د ښاري نظم، پلي لارو د خلاصون او ښاريانو ته د لازمو اسانتياوو په برابرولو کې د دوی ورځني کارونه او فعالیتونه مهم وګڼل.

ښاروال وويل: په ښار کې هيڅ نويو غرفو اېښودلو ته اجازه مه ورکوئ، هڅه کوو پخوانۍ غرفــې د بديلو ځايونو په کتنه له عمومي او فرعي سړکونو څخه لرې کړو.

د مارکېټونو د تنظيم امريت لوی مدير خالد افنان د ښــاري پوليســو او ورځنيو فعاليتونو په تړاو عمومي معلومات وړاندې کړل او ډاډ يې ورکړ چې هر شخص خپلې دندې ته ژمن دی.

د جلال اباد ښــاروالۍ رهبري د ښاري نظم او ښاري فرهنګ دودولو په برخه کې له ټاســو ټولو درنو ښاريانو غوښتنه کوي چې د ښاروالۍ له کارکوونکو سره بشپړه همکاري وکړئ.

## د ښاري نظم په موخه کندهار ښار کې نوی ګام



کندهار ۲

کندهار ښــار کې د ترافیکو مدیریت په غوښتنه، د ولايت مقام په مالي لګښــت او د کندهار ښاروالۍ په تخنيکي ملاتړ د ښــاري نظم او ترافيکي اصولو د مراعت کولو په برخه کې تازه د شــهيدانو څلور لارې څخه شروع بيا د ا. ا. تــر څلور لارې پــورې د جادې دواړو خــواوو ته د ترافيکي نښو لوحې نصب کړې.

د يادو ترافيکي نښــو لوحو په نصب کولو سره به تر ډېره حده د ترافيکي پېښــو او بې نظميو مخه نيول شوې وي.

## داغ‌گیری سرک‌های عمومی در ســطح شــهر هرات جریان دارد



هرات ۳

شــاروالی هرات کار داغ‌گیری سرک های عمومی سطح این شهر را آغاز نموده و کار آن عملاً جریان دارد.

مســؤولان در شــاروالی هرات میگویند، کار داغ‌گیری سرک های عمومی داخل شــهر با اســتفاده از امکانات تخنیکی و ماشینری موجود این اداره به پیش برده می‌شود که به گونه‌ی تدریجی داغ‌گیری و آسفالت میگردد.

شــهروندان هرات نیز از آغاز این روند ابراز خرسندی کرده و می‌گویند که ترمیم سرک‌های تخریب‌شده، سهولت بیشتری در رفت‌وآمد آنان ایجاد کرده و مشــکلات ترافیکی را کاهش داده است.

## غزني ښــاروال د يو شــمېر تفريحــي پارکونو څخه ليدنه وکړه



غزني ۴

د غزني ښــاروال مولــوي محمدنبي حمزه د ســکتوري او مسلکي امر حاجي فضل احمد مدني په ښار کې د يو شمېر شــنو ســيمو او تفريحي پارکونو د حالت، پاکــوالي او عامه خدمتونو د څرنګوالي ارزونه وکړه.

ښاغلي حمزه وويل: د ښار ښــکلا او د ښاريانو د تفريح لپاره پارکونه خورا مهم دي

او بايد د حفظ الصحې، شنو ساحو، او د اسانتياوو د برابرولو په برخه کې جدي پاملرنه وشي.

او اړوند برخو ته هدايت ورکړل شــو ترڅو د پارکونو او شــنو سيمو د سمون او پاکوالي لپاره لازم ګامونه واخلي.

ښــاغلي ښــاروال په دې ليدنه کې د پارکونو د سمبالښت، زرغونتيا، تفريحي اســانتياوو او د ماشــومانو لپاره د مناسب چاپېريال پر ارتيــا ټينګار وکړ او ويې ويل؛ غزني ښــار بايد داسې تفريحي ځايونه ولري،

چې خلک د فزيکي او ذهني فشار څخه ارام واخلي.

نوموړي همداراز د ښاريانو څخه غوښــتنه وکړه ترڅو د شنو ســيمو څخه ســاتنه وکړي او د دغه رياســت سره د ښار د پاکوالي په برخه کې پوره همکاري وکړي.

## شــاروال فیض آبــاد از ناحیــه پنجم این شــهر بازدید کرد



بدخشان ۵

مولوی حبیب الرحمن منصور شــاروال شهر فیض آباد ولایت بدخشــان از نقاط مختلف ناحیه پنجم بازدید کرد و در این جریــان این بازدیــد، فیصله نمود تــا سرک جدید به منظور کاهش ازدحام ترافیک در ســاحه میدان بزکشی (سنگمهر) ساخته شود.

شاروال فیض آباد به مسؤولان این ناحیه هدایت داد تا موانع و اشیای مزاحم از پیاده‌روها پاکسازی گردد.

## د کار په بدل کې د مرســتو وېش



خوست ۶

د خوســت ولايت تنيو ولسوالۍ ښاروالۍ د ملګرو ملتونو د بشري مرستو وېش د منظم پلان له مخې تنظيم کړی، چې خلکــو ته د کار په بدل کې ورکــول کيږي، په دې لړ کې، ګن کســان د لښــتيو او پياده‌روونو په پاکولو او نيالګيو په قيچي کولو بوخت دي، تر څو د مرستو پروسه شفافه شي.

### خبــرتيــا

د ننګرهار ولايت مقام په مشرۍ د ګډ کمېسيون د پرېکــړې له مخې په ازاد بازار کــې د يوې کندي واورې(يخ) بيه په فابريکو کــې په عمده ډول ۲۰ افغانۍ او پــه هټيو کې په پرچون ډول ۳۰ افغانۍ ټاکل شوې.

ټولو د واورې(يخ) پلورونکو فابريکو او خرڅوونکو ته خبر ورکول کېږي چې له ټاکل شوي نرخ څخه دې پورته خرڅون نه کوي، که څوک له ياد نرخ څخه د پورته خرڅولو پرمهال ونيول شو بيا د شکايت حق نه لري.

ننګرهار ولايت

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## پاک‌کاری ده کیلومتر آبروهای شهرک گلغندی تکمیل گردید



پروان ۷

کارکنان تنظیف و سرسبزی شاروالی چاریکار ولایت پروان جویچه‌ها و بیست‌وپنج پلچک را به طول ده کیلومتر در شهرک گلغندی شهر چاریکار از وجود کثافات پاک‌کاری نمودند.

ده کیلومتر آبرو و ۲۵ پلچک که از اثر سرازیر شدن سیلاب های فصلی سال ۱۳۹۹ مسدود گردیده بودند توسط ماشینری و کارکنان مدیریت عمومی تنظیف و سرسبزی شاروالی چاریکار طی هفت روزکاری پاک‌کاری گردید.

اهالی منطقه از این کارکرد شاروالی شهر چاریکار ابراز خرسندی کردند و از همکاری خویش در عرصه پاکی و صفایی اطمینان دادند.

## بازسازی پارک تفریحی افغان-ترک در ناحیه هفتم شهر مزارشریف آغاز گردید



مزار شریف ۸

به اثر سعی و تلاش حافظ عبدالرحمن همت، شاروال شهر مزارشریف، کار بازسازی پارک تفریحی افغان-ترک در ناحیه هفتم شهر توسط شاروالی مزارشریف با همکاری شرکت لوژستیکی برادران بهمن بهرام آغاز گردید.

بازسازی پارک مذکور شامل نصب چوکی های نشیمن، چراغ های باغی، اسباب بازی برای اطفال، کتاره های فلزی در دیوار های اطراف، فواره های آب، سرسبزی، میدان ورزشی فوتسال و جزئیات یک پارک معیاری می‌باشد که در مدت سه ماه کاری بازسازی آن تکمیل خواهد گردید.


مسئول شرکت قراردادی مذکور اظهار داشت که بازسازی پارک تفریحی افغان-ترک شامل جزئیات یک پارک معیاری می‌باشد که در مدت سه ماه کاری بازسازی آن مطابق شرطنامه قرارداد شاروالی تکمیل و به بهر برداری خواهد رسید.

## به منظور مراقبت جان شهروندان و جلوگیری از شیوع امراض مختلف، جمع آوری سگ های ولگرد شب هنگام در نواحی دوازده گانه شهر مزارشریف توسط کارکنان آمریت تنظیف و سرسبزی شاروالی به همکاری وکلای گذر نواحی آغاز گردید.



مزار شریف ۹

## د گرشک ښاروالۍ له لوري د لومړۍ ناحیې څخه لیدنه وشوه



هلمند ۱۰

د گرشک ښاروالۍ د تنظیم گډ پلاوي د لومړۍ ناحیې مدیر صاحب په ملتیا د گرشک ښار د لومړۍ ناحیې له پلیو لارو څخه لیدنه وکړه او هغه دوکانونه چې بغیر د ښاروالۍ له اجازې څخه په خپل سري ډول پر پلیو لارو باندې جوړ شوي و، خبر ورکول شو، چې د روانې اونۍ د چهارشنبې تر ورځې پورې دې خپل دوکانونه د یاد ځای څخه یو بل مناسب ځای ته انتقال کړي د نه انتقال په صورت کې بیا حق د شکایت نه لري.

ترڅو پلې لارې د ښاریانو پر مخ خلاصې شي او د ښار د خلکو مشکلات حل شي.

## کندهار ښاروالۍ کې د احمدشاهي جادې د مسیر، سروې او ډیزاین په اړه تخنیکي مجلس ترسره شو

د کندهار ښاروالۍ د غونډو په تالار کې د مرکز کابل څخه راغلو تخنیکي پلاوو او د کندهار ښاروالۍ تخنیکي ټیمونو ترمنځ د احمدشاهي جادې د مسیر، سروې او معیاري ډیزاین په اړه تخنیکي مجلس ترسره شو.

په دې مجلس کې دواړو لوریو د یادې جادې د امتداد، مسیر او ډیزاین پر تخنیکي اړخونو هر اړخیز بحثونه او نظریات شریک کړل.

د جادې د پراختیا دغه پروژه له سردار مدد خان څلور لارې څخه شروع بیا تر کندهار محبس پورې غځېدلې ده، اد سړک ٤ کیلو متره اوږدوالی او ٦٠ متره پلنوالی لري، چې د ماستر پلان له مخې به یې د پراختیا ورکولو عملي چارې پیل شي.

کندهار ۱۱

## د جلال اباد ښاروالۍ له لوري د ښاري فرهنگ دودولو په موخه د لومړۍ ناحیې له علماوو، گذر وکیلانو او ځوانانو سره ناسته وشوه




مزار شریف ۱۲

د جلال اباد ښاروالۍ د ښاري حکومتولۍ ریاست له لوري د ښاري فرهنگ دودولو، د ښار پاکوالي او د ښاروالۍ د اصولي او قانوني عوایدو راټولولو په برخه کې د لومړۍ ناحیې له علماوو، گذر وکیلانو او ځوانانو سره ناسته ترسره شوه.

د ښاري حکومتولۍ رئیس مولوي سیف الرحمن شینواري د غونډې گډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنگ د ښاري فرهنگ په اړه تفصیلي وینا وکړه او دغه برخه یې د ټولو گډ مسؤولیت یاد کړ.

د لومړۍ ناحیې د علماوو او گذر وکیلانو په استازیتوب څو تنو خبرې وکړې او ټولو هوډ وکړ چې د جلال اباد ښاروالۍ له لوري د ښاري فرهنگ، ښاري نظم او عوایدو راټولولو په برخه کې د ښاروالۍ له کارکوونکو سره بشپړه همکاري کوي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې ښاریانو ته د ښاري فرهنگ په اړه له بېلابېلو لارو څخه معلومات او پیغامونه ورسوي.

## تنیو ولسوالۍ ته د ښه راغلاست دروازې چارې تر ځار لاندې دي



خوست ۱۳

د خوست ولایت د تنیو ولسوالۍ لپاره د ښه راغلاست دروازې د جوړېدو چارې په منظمه توگه روانې دي، چې کیفیت، نظارت او ارزونه یې د یوې گډې حکومتي کمېټې لخوا تر جدي ځار لاندې نیول شوې ده.

یاده دروازه د تنیو ولسوالۍ د ځوانانو د غوښتنې او په مالي همکارۍ جوړېږي او د کارونو کیفیت ته د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د یادې ولسوالۍ ښاروالۍ استازې د نظارت برخه کې فعاله ونډه لري.

د تنیو ولسوالۍ ښاروالۍ مسؤولین وایي، هڅه کېږي یاده دروازه د دوديزو، فرهنگي او ښاري ارزښتونو پر بنسټ په معیاري ډول تکمیل شي، ترڅو د ولسوالۍ د ښکلا ترڅنگ د مېلمنو د تود هرکلي څرگندونه وکړي.

رغونه
اونیزه

د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامی امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

## د مزارشریف ښــاروال، د اولې ناحیې حلقوي سړک دواړو غاړو ګلدانیــو رغولو څخه څارنه ترسره کړه



مزار شریف ۱۴

د مزارشریف ښاروال حافظ عبدالرحمن همت د اولې ناحیې اړونـد د جهاد څلور لارې څخه بیا تر ذبیــح الله څلور لارې پورې د ســړک دواړو غاړو ګلدانیو رغولو څخه له نږدې څارنه ترسره کړه.

چې د څارنې پر مهال د مزارشریف ښاروالۍ اولې ناحیې امر مولوي بسم الله ابو یحیی او د ګذرو وکیلانو شتون درلود.

د څارنــې پر وخت د مزارشریف ښــاروال حافظ عبدالرحمن همت په معیاري او ښــکلي ډول د ګلدانیو جوړولو، ګلدانیو کې یې د چمن کرلو لپاره د مناسبې خاورې هوارولو، د ونو او کرل شــوي چمن روزنې او پالنې په اړه یې د اولې ناحیې امر او تنظیف کارکوونکو ته اړینې سپارښتنې وکړې.

همدارنګه ښــاغلي همت وویل د مزارشریف ښار اولې ناحیې ښاریان په داوطلبانه ډول حاضر شول ترڅو د ښار پاکوالي او سمســورتیا پراخېدو په موخه د مزارشریف ښــاروالۍ سره د حلقوي ســړک دواړو غاړو ګلدانیو زرغونولــو او بیارغولو کې برخه واخلي.

بلخوا د مزارشریف ښاروالۍ اولې ناحیې امر مولوي بسم الله ابویحیــی ژمنه وکړه چې د حلقوي ســړک دواړو غاړو ګلدانیو زرغونولو او بیارغولو کې به شپه او ورځ هڅې وکړي.

## بخــش تنظیف شــاروالی فیض آبــاد ولایت بدخشان، رسوبات سیلابی را از ناحیه دوم و زباله‌های کثافات را از ناحیه ششم این شهر پاکسازی و به بیرون شهر انتقال دادند.



بدخشان ۱۵

## میدان ښــار ښــاروال له میدان ښــار بازار څخه لیدنه وکړه



میدان وردګ ۱۶

د میدان ښار ښاروال ښاغلي ملا رازمحمد فاروقي د میدان ښــار بازار د تنظیم پــه موخه د بازار د تنظیــم کمېټې په ملتیــا د بازار له مختلفو برخو څخه لیدنه وکړه.

د ښــاغلي فاروقي له لــوري د بازار د تنظیــم کمېټې ته سپارښــتنه وشــوه، ترڅو د پلیو لارو خلاصون او د کراچیو تنظیــم ته لومړیتوب ورکړي تر څو د بازار نظم خوندي او د ګډوډیو مخنیوی وشي.

په ورته وخت د زېرزمیني مارکېــټ جوړولو چارو د نظارت ترڅنګ په میدان ښار بازار کې د عمده پلورونکو او ترکاري پلورونکو له لوري د پلیو لارو بندښــت، د غوښه پلورونکو له لوري د کثافاتــو د کنټرول په برخه کــې د کړنو نه ترسره کولــو، د مارکېټونو پورته پوړونو ته د پلیو لارو څخه د پورته شــویو زینو، څارنه ترسره او د تنظیــم کمېټې ته یې په اړه لازمې سپارښتنې وکړې.

## د مهترلام ښــاروالۍ لــه لوري د ښــاریانو ســتونزو او شکایتونو ته رسېدنه وشوه

د تل په څېر یو ځل بیا د مهترلام ښاروالۍ د لومړۍ ناحیې مدیر ملا عباس ابراهیمي په مشرۍ چې د ښاروالۍ امرینو یــې ملتیا کوله د ګڼې ګوڼې د مخنیــوي په موخه یې د مهترلام ښار د پلیو لارو د خلاصون کمپېښون ترسره کړ.

د یاد کمپېســیون له لوري په غیري قانوني توګه چې کومو دوکاندارانو او هټیوالو په ترپالونو، چترۍ ګانو او نور شیانو باندې پلې لارې بندې کړې وې د ښاریانو پرمخ خلاصې کړې.

د لومړۍ ناحیې مدیر ملا عبــاس ابراهیمي وویل چې د مهترلام ښــاروال الحاج مولوي رحمت الله شــهامت په لارښونه د ښاري نظم راوستلو او د پلیو لارو د خلاصون په موخه یو ګډ کمېسیون جوړ کړی چې یاد کمېسیون نن یو ځل بیا په ښار کې د ښاریانو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه وکړه او هغه پلې لارې چې د دوکاندارانو او هټیوالو له لوري بندې شوې وې په بشپړ ډول د ښاریانو پرمخ پرانیستل شوې.

نوموړي وویل چې یاد کمېســیون په دوامــداره توګه په مهترلام ښــار کې فعالیت کوي، که هــر چا لاره بنده کړه قانوني چلند ورسره کېږي چې بیا حق د شکایت نه لري.

د مهترلام ښار اوسېدونکي د ښاروالۍ د یاد کمېسیون له فعالیتونــو خوشــحاله دي او وایــي چې د پلیــو لارو په خلاصېدو سره د تګ راتګ سهولتونه برابرېږي او د ترافیکي پېښو مخنیوی کېږي.

د یادونې وړ ده چې یاد کمېسیون وخت پر وخت په ښار کې خپل فعالیتونه کوي او ښاریانو لپاره اسانتیاوې برابروي.

لغمان ۱۷

مدیریت لوایح و اشتهارات شاروالی تالقان ولایت تخار، به هدف تطبیق قوانین و تأمین نظم شهری، از نصب لوایح و اشتهارات تبلیغاتی در مکان‌های غیرمجاز از جمله پایه‌های برق، درختان و پیاده‌روها جلوگیری به‌عمل آورده و لوایح نصب شده را جمع آوری نموده است.

تخار ۱۸

## غزني ښــاروالۍ له لوري له خواجه بهایي جان اغا د ســړک د کانکرېټ چارې ۹۰ سلنه بشپړې شوې



غزني ۱۹

غزني ښــاروالۍ ریاســت او ملګرو ملتونو د خدمتونو د دفتر په مرســته د روضې اړوند د سلطان محمود غزنوي زیارت ته څېرمه د خواجه بهایي جان اغا د فرعي سړک د کانکرېــټ چارې په چټکــۍ سره روانې دي او د ۱۵ ورځو په موده کې به بشپړې شي.

دغه سړک چې د ښاروالۍ ریاســت او یونیس نړیوالې موسســې له لوري یوه خصوصي شرکت تــه په قرارداد ورکړل شوی ۶۰۰ سوه متره اوږدوالی ۶ متره پلنوالی او ۵۵۰ متره لښتي لري چې په نږدې راتلونکي کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د دې ســړک پخول به نه یوازې د خلکو د ژوند کیفیت ښــه کړي، بلکې د غزني پــه تولیزه توګــه اقتصادي پرمختګ کې هم مرسته کولی شي.

بل خوا د ســیمې اوسېدونکي د داســې پروژو هرکلی کــوي او زیاتوي، هیلــه ده چې نوموړې پروژه په ښــه کیفیت او په ټاکلي وخت ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د یادولو وړ ده چې د دې پروژې ټول لګښت ۸ میلیونه افغانۍ دی چې نړیوال بانک یې مالي ملاتړ کوي.

د دې پروژې اصلي هدف د افغانستان په کلیو او ښارونو کــې د لومړنیو خدمتونو وړاندې کــول دي، چې زیات تمرکز یې د بشري قوې په ګمارلو دی چې اوس په دغه پروژه کې ۱۰۰ تنو ځوانانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

ښاروالۍ ریاست د رهبرۍ ټیم هڅه کوي ترڅو په ټولو سیمو کې په مساوي توګه خدمتونه وړاندې کړي.

## ترینکوټ ښــار کې د او ایچ اې مؤسسې اړوند کاریګرو څخه د کار پر مهال نظارت ترسره شو




ترینکوټ ښاروالۍ د ښار درېیمې ناحیې اړوند ساحو کې د او ایچ اې مؤسسې د سروې شویو کاریګرو څخه چې یاد ریاست ورسره په همغږۍ چارې پرمخ وړي نظارت ترسره کړي.

یاد نظارت د تخنیکي او مســلکي چــارو عمومي مدیریت او ښاري حکومتولۍ مدیریت لخوا د ښار څلور واړه ناحیو څخه د ښار صفایۍ په هدف وغځېد.

د دې نظـارت پر مهال د او ایچ اې مؤسســې کاریګرو لخوا ښــاري چریو او پلچکونو پاکاري، د کثافاتو راټولول او د ښار واټونه جارو او موجوده  کثافات ترې راټول شول او د ترینکوټ ښاروالۍ ریاســت د ماشــینرۍ ټیم لخوا د ښار څخه بهر انتقال شول.

ورته وخت کې د یاد ریاســت د رهبرۍ له لوري د جوړه شوې کمېټې لخوا د او ایچ اې مؤسســې مســؤولینو ته د یو شمېر کاریګرو د غیر حاضرۍ په موخه لازمې سپارښتنې وکړې او د یادو کاریګرو پر حاضرولو یې هم زیات ټینګار وکړ.

بل لور د ترینکوټ ښــاروالۍ ښــاروال مولوي عبدالرشــید هدایت الله وایي تل هڅه کوي چې د پاک چاپېریال لرونکی ښار درلودل ، ښــاري نظم ټینګښت او ســمون لپاره جدي اقدامات وکړي  او د ښــار په ټولو ناحیو کې د موسساتو لخوا موظف ســوو کاریګرو څخه خپلې نظــارتي چارې لا جارې وســاتي ترڅو ښــار مو پاک او ښــاریان له یوه منظم ، پاک ښاري ژوند څخه برخمن شي.

**مدیر حکومتداری شهری شاروالی شکردره ولایت کابل بــا نماینده هوتل ها دیدار نمود و در مورد حفظ و مراقبت و آبیاری درختان ســاحات مربوط بــه آنها بحث نمود؛ همچنان کارکنان تنظیف و سرسبزی به منظور صفایی و حفاظت از محیط زیســت این ولسوالی، نهال های بازار قلعه مرادبیک را آبیاری نمودند**




## جلسهٔ مسئوولین کمیته های کمیسیون نظم و توسعهٔ شهری شاروال میمنه برگزار گردید




جلسهٔ مسئوولین کمیته های کمیسیون نظم و توسعهٔ شهری شاروالی شهر میمنه ولایت فاریاب در دفتر کار شاروال میمنه برگزار گردید.

این نشســت با تلاوت آیات کلام‌الله مجید آغاز شــد؛ سپس مسئوولین کمیته‌های مربوطه پلان کاری خویش را به‌منظور نهایی‌سازی و تطبیق مؤثر آن ارائه کردند.

در اخیر نظریات و پیشــنهادات توسط مســئوولین پیرامون موضوعات مختلف شهری ارائه گردید تا جهت بهبود وضعیت نظم شــهری و ارتقای کیفیت خدمات در پلان کاری کمیته های کمیسیون گنجانیده شود.

## د محمودراقي ښــاروالۍ له خوا د مکاتبو او مدارسو ښــاروالیو کمېټــو ته تنظیفــي لوازم او قرطاســیه وویشل شوه




د محمودراقي ښاروالۍ له لوري د ښوونیزو بنسټونو د ملاتړ او ښاري کلتور د ودې په موخه، نن د الله محمد شهید لیسې ته د پاک کارۍ، تنظیفي لوازم او قرطاسیه  وویشل شوه، چې د ښوونیز چاپېریال د ســمون او ښایست لپاره خورا ارزښتناک ګام بلل کېږي.

په دې مرستو کې بېلابېل توکي شامل وو لکه: بېل، کچ بیل، د کثافاتو سطلونه، کراچۍ، دسکشــې، ماسکونه، کتابچې، قلمونه او نور اړین مواد، چې د ښوونځیو د ښه پاکوالي او نظم لپاره حیاتي ارزښت لري.

د لیسې مسؤولینو د ښاروالۍ له دې مرستې څخه مننه وکړه او دا یې د ښوونیز چاپېریال صفا ساتنې او ښه والي په لور یو مهم ګام وباله.

هغوی څرګنده کړه چې دا ډول همکارۍ نه یوازې ښــوونځي ته ښــکلا وربښــي، بلکې زده کوونکو ته هم د نظم، پاکۍ او مسؤولیت حس ور زده کوي.

همداراز د محمودراقي ښــاروالۍ مسؤولینو ژمنه وکړه چې د ښــوونیزو بنســټونو ملاتړ ته به دوام ورکړي، ترڅو د زده کړې بهیر لا پیاوړی، چاپېریال لا پاک او راتلونکی نسل لا روڼ شي.

## پیاده‌روهــای مســیر پــروژه سرک حمام روشــن پاکسازی شد




در ادامــه روند بهبود وضعیت شــهری و تطبیــق پروژه‌های زیربنایی به هدایت مولوی حبیب الرحمن منصور، شــاروال شهر فیض‌آباد  کمیته مسؤول شاروالی جهت تسهیل پیشبرد کار پروژه سرک حمام روشن وارد عمل شد.

در جریان بررسی‌ها مشــخص گردید که برخی از دکانداران اشــیای خود را در پیاده‌روها قــرار داده بودند که این اقدام سبب ایجاد مزاحمت و اخلال در روند کاری پروژه گردیده بــود. به همیــن منظور، تیــم مؤظف با حضور در ســاحه تمامی اشــیای مزاحم را از مســیر پیاده‌روها جمع‌آوری و پاکسازی نمودند.

این اقدام به هدف ایجاد ســهولت در اجــرای پروژه و فراهم ســازی زمینه برای پیشرفت منظم و مؤثر کارهای ساختمانی صورت گرفته است و شاروالی فیض‌آباد همواره در تلاش است تا با همکاری شــهروندان  چهره‌ای منظم، پاک و پیشرفته از شهر ارائه نماید.

## لښکرګاه ښــاروال د یو شــمېر ناحیو څخه لیدنه وکړه




د هلمند مرکز لښــکرګاه ښاروال حافظ صدیق نن په ناڅاپي ډول د لښکرګاه ښار اړوند یو شمېر ناحیو څخه لیدنه وکړه.

د لیدنې پرمهال یې د لښــکرګاه ښاروالۍ مالي او اداري امر مولوي محب ملتیا کوله.

حافـظ صدیق د ناحیو عمومي مدیرانو ته په خبرو کې وویل: د ښاریانو ستونزو ته پر وخت رسېدنه وکړئ، د ښار نظافت ته زیاته پاملرنه وکړئ او هڅه وکړئ چې د ســیمې د ملا امامانو او ګذر وکیلانو په واسطه خلکو ته پوهاوی ورکړئ ترڅو د ښار پاکوالي ته متوجه اوسي.

د ناحیو مدیرانــو ژمنه وکړه چې دوی به خپلو چارو ته متوجه کېږي او د ښاریانو ستونزو ته به پر وخت رسېدنه کوي.

### د پلیو لارو د تخلیې په موخه په ورځني ډول اجراات صورت نیسي

د اسعداباد ښاروالۍ د ښاري خدمتونو مدیریت د کاري ټیم په مرسته هره ورځ د ښار په بېلابېلو برخو کې د پلیو لارو د تخلیې په موخه خپل فعالیتونه ترسره کوي.
زمونږ هڅه دا ده چې ښاري محدوده کې پلې لارې تخلیه او د عامو ښاریانو په وړاندې شته ستونزې له منځه لاړې شي.


کنړ ٢٦

### د ښاروالیو چارو د سمون عمومي رئیس مولوي محمد اسحق اخندزاده د یو تخنیکي پلاوي په مشرۍ لغمان ولایت ته د سفر پر مهال د قرغیو ښاروالۍ د تدارکاتي قراردادونو، عوایدو، محاسبې، ټرانسپورټ، د تنظیف او کارکونکو چارو اړوند اسناد وڅېړل، او د ښاروالۍ مسؤولینو ته یې د چارو د لا ښه ترسره کېدو په موخه لازمي سپارښتنې وکړې.


لغمان ٢٧

### جلسه مبارزه با فساد اداری به ریاست ملا راز محمد ذاکر شاروال قلعه نو برگزار گردید و در آن پیرامون مبارزه با فساد، تامین عدالت، شفافیت در ادرات بحث و تاکید صورت گرفت.



بادغیس ٢٨

### مدیریت فرهنگی و حکومتداری شهری شاروالی ولسوالی بگرام ولایت پروان به هدف تطبیق قوانین و تأمین نظم شهری، از نصب لوایح و اشتهارات تبلیغاتی در مکان‌های غیرمجاز از جمله پایه‌های برق، درختان و پیاده‌روها جلوگیری به‌عمل آورد و لوایح نصب شده را بعد از آگاهی دهی جمع‌آوری نمودند.



بگرام/کابل ٢٩

### د بالادې منګل اباد کانکریټي سړکونو جوړولو چارې مخ په بشپړېدو دي


پکتیا ٣٠

ګردیز ښار ځلورمې ناحیې اړوند، بالادې منګل اباد سیمه کې د خوړ غاړې استنادي دېوال او دریو کانکریټي فرعي سړکونو جوړولو کارونه بشپړېدو ته نږدې شوي دي.

ګردیز ښاروال مولوی حبیب الله اخندزاده حامد د ښاروالۍ مراقبت کوونکو انجینرانو په ملتیا، د دې پروژې ترسره شوې چارې له نږدې وکتلې.

ښاروال د دې پروژې ترسره شویو کارونو پر لیدو خوښي وښووده، چې د ښاري خدمتونو څخه د دې محرومو ښاریانو لپاره کانکریټي سړکونه جوړېږي او د دې سیمې لسګونه بې روزګاره کسانو ته یې کاري فرصتونه برابر شوي دي.

ګردیز ښاروال د سیمې له اوسېدونکو وغوښتل، چې د دغه ټولګټو پروژو ښه ساتنه وکړي څو د اوږدې مودې لپاره دې استفادې وړ واوسي.

دغه پروژه په تولیزه توګه ٨٣٠ متره په اوږدوالي او بېلابېل پلنوالي په لرلو، درې کانکریټي سړکونه او ١٨٠ متر په اوږدوالي د خوړ غاړې استنادي دیوال جوړول شامل دي.

د ملګرو ملتونو دفتر یونپس پر مالي لګښت دغه پروژه د همدې سیمې اوسېدونکو اساسي غوښتنې وې، چې په جوړېدو سره یې ګڼې ستونزې حل او خوړ غاړې کرنیزې ځمکې او کورونه د سېلابونو له خطرونو خوندي شوې.

### غزني ښاروالۍ په ښار کې د رستورانتونو له حفظ الصحې څخه څارنه ترسره کړه


غزني ٣١

غزني ښاروالۍ د مارکېټونو د تنظم مدیریت له لوري د ښار په بېلابېلو سیمو کې د رستورانتونو، قصابیو او یو شمېر هټیو څخه د حفظ الصحې، د روغتیا کارت او خوراکي توکو څخه ارزونه وکړه.

د مارکېټونو د تنظیم مدیر ضیاالرحمن رشیدي وویل: دغه څارنه د ښار په بېلابېلو سیمو کې د رستورانتونو د حفظ الصحې، د خوړو کیفیت او د خلکو د روغتیا د خوندیتوب لپاره ترسره شوې ده.

نوموړي همدارز زیاته کړه: دغه ریاست هڅه کوي د ښار د خوړنیزو خدمتونو معیار لوړ وساتي او هغه رستورانتونه، قصابۍ چې حفظ الصحې ته پاملرنه نه کوي قانوني چلند سره به مخ شي.

د غزني ښاروالۍ له تولو هټیو والو څخه وغوښتل چې د خوړو په چمتو کولو او پلور کې پاکوالي ته ځانګړې پاملرنه وکړي ترڅو د ناروغیو د خپرېدو مخه ونیول شي.

### خوست ښاروالۍ تاریخ تېر توکي کشف او ځانګړې ځای ته انتقال کړل


خوست ٣٢

د ښاروالۍ د مارکېټونو د تنظیم مدیریت ځانګړې څار ډلې د ښار په بېلابېلو برخو کې د تاریخ‌تېرو خوراکي او غیر خوراکي توکو د کشف او راټولولو ځانګړې څارنه ترسره کړه.

د یادې څېړنې په ترڅ کې یو شمېر تاریخ تېر شوي خوراکي او غیر خوراکي توکي چې عامې روغتیا لپاره زیان رسوونکي ګڼل کېږي نیولي.

مسؤولین ټینګار کوي چې پلورونکي باید د موادو د تولید او ختمېدو نېټې ته جدي پاملرنه وکړي او د تاریخ تېرو توکو د خرڅلاو څخه دې ډډه وکړي.

**بخش تنظیف شاروالی پلخمری ولایت بغلان، بطور روزانه جهت ایجاد سهولت برای همشهریان و پاکی شهر کثافات را از نقاط مزدحم شهر و نواحی شش‌گانه، کثافات را پاک کاری می‌نماید.**



بغلان ۳۳

**کندهار ښار د تنویر په برخه کې د ښاروالی یو بل مهم ګام**



کندهار ۳۴

کندهار ښاروالی د خپلو انکشافي او نورو فعالیتونو ترڅنګ د ښار ښکلا او روښانتیا ته هم خاصه توجه کوي.

اوس تازه د ډنډ ځلور لارې څخه شروع بیا تر باغ پل پورې غځېدلې سړک روښانه شو.

د یاد سړک په روښانه کولو سره همدې سیمې ځانګړې ښکلا پیدا کړه او عامو ښاریانو د کندهار ښاروالی د دې مهم ګام څخه ځانګړې مننه وکړه.

**جلسه‌ای بورد مشورتی شاروالی تالقان ولایت تخار تحت ریاست مولوی عبدالغفور سیرت با حضور اعضای بورد مشورتی در صالون جلسات این اداره برگزار گردید و در مورد راهکارهای بهبود عملکرد بورد مشورتی، تقویت نقش وکلای گذر در توسعه شهری و ارائه تدابیر مؤثر جهت جلوگیری از ازدحام شهری بحث و تبادل نظر صورت گرفت.**




تخار ۳۵

**مرستیال والي او د جلال اباد ښاروال؛ هڅه کوو په نږدې راتلونکې کې د جلال اباد حلقوي سړک کارونه پیل کړو**



ننګرهار ۳۶

د ننګرهار ولایت مرستیال والي مولوي عزیزالله مصطفی او د جلال اباد ښاروال قاري بلال بسم الله د جلال اباد ښار د حلقوي سړک د مسیر، د ځمکو د استملاک، اوږدوالي او د لومړنیو کارونو د پیلولو په موخه لیدنه وکړه.

مرستیال والي ښاغلي مولوي عزیزالله مصطفی او د جلال اباد ښاروال د یادو ساحو د لیدنې پرمهال د یاد حلقوي سړک د جوړېدو په اهمیت او د جلال اباد ښار لپاره د ښاري پراختیا او ښار ته د ګڼ راتګ د بدیلو مهمو لارو څخه یاد کړل.

دغه څلور متره حلقوي سړک چې ټول ۲۱ کیلو متره اوږدوالی لري په دوو برخو کې به د جلال اباد ښاروالی، همکارو موسسو او مرکزي اداري په همکارۍ جوړ شي.

یاد سړک د نهمې ناحیې له ثمرخېلو پیل د بهسودو تر پل پورې او د بهسودو پل نه د اوومې ناحیې تر سرخاب پل پورې د ۱۳۹۲ کال ماستر پلان له مخې ترتیب شوی چې جلال اباد ښاروالی او همکارو ادارو په مرسته به یې عملي کارونه ژر تر ژره پیل شي.

د جلال اباد ښاروالی رهبري هڅه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو موسسو په مرسته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په اساسي ډول ورغوي.

**جلسه تقویت فرهنگ شهرنشینی در لیسه فرخی زرنج برگزار گردید**

شاروالی زرنج ولایت نیمروز، به منظور تطبیق و ترویج ارزش‌های سالم شهری، جلسه تقویت فرهنگ شهرنشینی را در لیسه فرخی با حضور آمر حکومتداری شهری، مدیر عمومی اجتماعی و فرهنگی شاروالی، مسؤولان و شاگردان این لیسه برگزار نمود.

در جلسه پیرامون اهمیت ترویج فرهنگ اسلامی شهرنشینی، رعایت نظم و نظافت شهری و تقویت همکاری میان مردم و نهادهای حکومتی تأکید صورت گرفت.

نیمروز ۳۷

**په ۱۴۰۳ لمریز کال کې د کندز ښاروالی پرمختګونه او لاسته راوړنې**



کندز ۳۸

کندز ښاروالی د یوې لویې خدماتي اداري په توګه په هر ډول شرایطو کې کندز ښاریانو ته چاپېریالي او پراختیایي خدمتونه وړاندې کوي، له دې ډلې تنظیفي او د زرغونتیا فعالیتونه چې هر ورځ پرته له ځنډ ترسره کېږي په ۱۴۰۳ لمریز کال کې لا زیات چټک شول او تنظیفي کارکوونکي د ورځې سربېره د شپې لخوا هم د ښار په پاکولو بوخت وي.

د تنظیفي چارو د ظرفیت لوړولو په موخه کندز ښاروالی د ۵،۵ میلیونو افغانیو په ارزښت تنظیفي وسایط او ماشینري چې یو عراده لوډر(بابوکیټ) او دوه عرادې جکداره مازداګانې په کې شاملې وې وپېرلې.

د کندز ښاروالی د تنظیف مدیریت د شمېرو له مخې په تېر یو کال کې ۶۹۶۳۰ متره مکعب خځلې او کثافات له ښار څخه لیږدول شوي چې د نورو کلونو په پرتله ۱۵ سلنه زیاتوالی ښیي.

له ټولو ښاریانو هیله کېږي چې کثافات په سړکونو او نورو عامه سیمو کې ونه غورځوي بلکه ټاکل شویو ځایونو ته یې د شپې له خوا راوړي ترڅو د کندز ښاروالی د تنظیف پرسونل لخوا پر وخت انتقال شي.

**میدان ښار، د کراچیو د تنظیم په موخه کړنې ترسره شوې**



میدان وردګ ۳۹

د میدان ښار ښاروالی د بازار د تنظیم کمېټې له لورې په میدان ښار بازار کې د نظم د خوندیتوب په موخه هغه کراچۍ چې په غیرمنظم ډول یې د بازار په مختلفو برخو کې فعالیت کاوه د قرعه کشۍ په اساس بریښنا ریاست لورې ته د جوړ شوي فرعي سړک سره ځای پرځای شوې.

په ورته وخت د کمېټې د غړو له لورې د پلو لارو د خلاصون په برخه د خدرخېل مارکېټ د هټیو هغه پیکونه چې په پلو لارو کې یې مزاحمت رامنځ ته کړی او د بازار ښکلا یې بد رنګه کړې وه وران شول.

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

رغونه اونیزه

د ولایاتـــو او ولســـوالیو ښـــاروالیو د فعالیتونو او
لاسته راوړنو خبري اونیزه

## د مزارشریـــف ښـــار ۵مــې ناحیې کې د یو ســـړک کانکریټ اچولو چارې ۵۰٪ ســـلنه پرمخ تللي


مزار شریف ۴۰

د مزارشریـــف ښـــار معیـــاري ودې او پرمختګ پـــه موخه د مزارشریف ښـــاروالی له خـــوا او د ملګرو ملتونـــو د پروژوي خدمتونو د دفتر په مالي مرسته د مزارشریف ښار ۵مې ناحیې ۵م ګذر کې د نواباد نهر توپ ســـړک کانکریټ اچولو چارې ۵۰٪ سلنه پرمخ تللي.

نوموړی سړک ۷۹۰ متره اوږدوالی او ٦ متره پلنوالی لري چې پاتـــې رغنیزې چـــارې به یې ٦۰ ورځو کې بشـــپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.

همدارنګه دغه پروژه کې هره ورځ ۱۵۰ تنو ته په مســـلکي او غیر مسلکي ډول د کار زمینه برابره شوې.

د یاد ســـړک رغولو په بشـــپړېدو سره به ښاریانو او لېږدونکي وسایطو ته د تګ راتګ ګڼې اسانتیاوې برابرې شي.

## جلســـه تقویت فرهنگ شهرنشـــینی در لیسه فرخی زرنج برگزار گردید



نیمروز ۴۱

شـــاروالی زرنج ولایت نیمروز، به منظور تطبیق و ترویج ارزش های سالم شهری، جلســـه تقویت فرهنگ شهرنشینی را در لیســـه فرخی با حضور آمر حکومتداری شهری، مدیر عمومی اجتماعی و فرهنگی شاروالی، مسؤولان و شاگردان این لیسه برگزار نمود.

در جلسه پیرامون اهمیت ترویج فرهنگ اسلامی شهرنشینی، رعایت نظم و نظافت شـــهری و تقویت همکاری میان مردم و نهادهای حکومتی تأکید صورت گرفت.

## د ګردیز ښـــار پراختیا لپاره د صالوخېلو سړک مسیر معلوملو کار پیل شو


پکتیا ۴۲

ګردیز ښـــاروالی د ښاري ښکلا او پراختیا لپاره، د ګردیز ښار داخلي سړکونو د عمومي پلان تطبیق په لړ کې پر پراخ سړک کار پیل کړ.

د پلان له مخې د ښار داخل نیمه حلقوي دغه سړک، چې د ښـــار زیاته برخه به پراخه کړي، د نســـوان شـــهري انجونو ښوونځي د مسجد قباء له ځلورلارې څخه د ۹۲۷ نهه سوه اوه وېشت متر په اوږدوالي او ۳۰ متره په پلنوالي د شمال پر لور او د ۵۵۸ مـــتر په اوږدوالي او ورته پلنوالي په لرلو د ختیځ پر لور د کابل لین عمومي سړک سره وصل شي.

د یاد ســـړک پر مسیر د ځایي اوســـېدونکو استوګنې شتون لري؛ چې د مالکینو په رضایت د کور او ښـــار جوړولو وزارت، پکتیا کور او ښـــار جوړولو ریاست او ګردیز ښاروالی تخنیکي ټیـــم د سروې له مخې به د دې ودانیو برخې د رنګ په ذریعه سره په نښه شي.

ګردیز ښاریان چې د ښار سړکونو عمومي پلان تطبیق یې لویه هیله ده، د دې سړک پلان پر تطبیق خوښ دي او وایي، چې د ګردیز ښاروالی له لوري د داخلي سړکونو ماسترپلان تطبیق سره به ښار پراختیا او پرمختیا ترڅنګ د ښار بڼه بدله شي.

ګردیز ښـــاروال حبیب الله اخندزاده حامد د یادې سیمې له درنو اوســـېدونکو او مشرانو څخه مننـــه کوي، چې د پلان په تطبیق کې له ښاروالی سره مرسته کوي.

**به اساس هدایت حافظ عبدالرحمن همت، شاروال شهر مزارشریف، تیم های تنظیفی آمریت تنظیف و سرسبزی شاروالی مزارشریف شـــب هنگام جهت پاکی و نظافت شـــهر توظیف و آغاز به کار نمودنـــد. تیم های مذکور از ساعت ۸ الی ۱۲ هر شـــب مصروف جمع‌آوری و انتقال زباله ها، پاک کاری آبروهای مســـدود و جاروب کشـــی سرک ها می‌باشند.**


مزار شریف ۴۳

## د خشـــک د لومړی پـــروژې په امتـــداد د دویمې پـــروژې کارونه په چټکی سره روان دي


غزني ۴۴

غزني ښـــاروالی ریاست او ملګرو ملتونو د دفتر په مالي ملاتړ په لومړۍ ناحیه کې د خشـــک د لومړی پـــروژې په دوام د دویمې پروژې چارې د یو منظم پلان له لوري روانې دي.

د پروژې مســـؤول انجنیر وحیدالله د معلوماتو له مخې دغه پروژه چـــې د لومړی پروژې په دوام سره شروع شـــوې، چې ٦۵۰ متره اوږدوالی، ٦ متره پلنوالی او ٦۵۰ متره لښتی لري.

چې چارې به یې د پلان له مخې په ۲ میاشتو کې بشپړې شي.

د ســـیمې یو تن مشر په دې اړه وویل: دغه پروژه زمونږ د کلي لپاره ډېره مهمه ده او له ښاروالی ریاست څخه مو هیله دا ده چې یاده پروژه په ښه کیفیت او ټاکلي وخت بشپړه شي.

د یادولو وړ ده چې خشـــک ســـیمه کې دوه پروژې د ۱۳۰۰ متره په اوږدوالي سره روانې دي.

چې ډېر ژر به د کانکرېټ په بڼه په معیاري او اســـاسي توګه ورغول شي.

## رئیس ســـکتوری و تخنیکی شـــاروالی مزارشریف از بـــلاک های مولانا در ناحیـــه چهارم مزارشریف نظارت نمود


مزار شریف ۴۵

اســـتاد محمد جاویـــد مایـــار، رئیس ســـکتوری و تخنیکی شاروالی، آمر نظارت شاروالی، آمر دفتر شاروالی و آمر ناحیه چهـــارم شـــاروالی مزارشریف از بلاک هـــای مولانا در ناحیه چهارم شـــهر نظارت نمودند و جریان کار بلاک مولانا را به اثر تخلف از قوانین شاروالی متوقف کردند.

آقای مایار، تأکید بر قوانین ریاســـت شاروالی مزارشریف در ســـاختمان نمود و گفت که نباید از اصـــول و قوانین تخلف شـــود؛ وی همچنان افـــزود که در صورت عدم رســـیدگی به مشکلات موجود با آنها برخورد قانونی صورت خواهد گرفت.

از جانب دیگر مســـؤول بلاک های مولانـــا نیز تعهد نمود که بزودترین فرصت ممکن به مشکلات موجود رسیدگی می کند.

## بازســازی پارک تفریحی افغان-ترک در ناحیه هفتم شهر مزارشریف آغاز گردید



مزار شریف ۴۶

به اثر ســعی و تلاش رهبری شاروالی شــهر مزارشریف، کار بازســازی پارک تفریحی افغان-ترک در ناحیه هفتم شــهر توســط شــاروالی مزارشریف با همکاری شرکت لوژستیکی برادران بهمن بهرام آغاز گردید.

بازسازی پارک مذکور شامل نصب چوکی های نشیمن، چراغ های باغی، اســباب بازی برای اطفال، کتاره های فلزی در دیوارهای اطراف، ســاخت فواره های آب، سرسبزی، میدان ورزشــی فوتسال و جزئیات یک پارک معیاری می‌باشد که در مدت سه ماه کاری بازسازی آن تکمیل خواهد گردید.

مســئوول شرکت قراردادی مذکور اظهار نمود که بازســازی پارک تفریحی افغان-ترک شــامل جزئیات یک پارک معیاری می‌باشــد که در مدت ســه ماه کاری بازســازی آن مطابق شرطنامه قرارداد شــاروالی تکمیل و بــه بهره برداری خواهد رســید و با بهره برداری پارک متذکره تســهیلات بیشتر برای شهروندان و رشد اقتصادی این ساحه فراهم خواهد شد.

**نمایندگان ولسوالی محمدآغه ولایت لوگر از فعالیت های شاروالی این ولسوالی از قبیل ارایه خدمات بهتر، رسیدگی به موقع به مشکلات مردم، تنظیف و سرسبزی، ارایه خدمات بهتر و جمع آوری عواید تقدیر نمودند و خواهان عملی شدن پروژه های انکشافی در این ولسوالی شدند.**

لــوگــر ۴۷

**کمیته نظارت ولایت دایکندی در هماهنگی با شــاروالی شــهر نیلی این ولایت از ساخت و ســازهای، که تحت پلان تفصیلی و اصلاحی اداره شاروالی شهر نیلی است نظارت نمــود. درجریان نظــارت چند مــورد خانه های رهایشــی و دو باب کوره خشــت پزی بدلیــل تخلف از قوانین شاروالی الی امر ثانی مسدود گردید.**




دایکندی ۴۸

**مدیریت عمومی تنظیف و سرســبزی شــاروالی شهر چاریکار ولایت پروان ساحه یک پارک تفریحی را در گذر اول ناحیه ششم شــهری که حدود یک جریب مساحت دارد؛ بخاطــر بــازی اطفــال و زیبایی ســاحه مذکور، هموارکاری کرد که در آینده نزدیک به بهره برداری خواهد رسید.**



پروان ۴۹

**کارکنان تنظیف و سرســبزی شاروالی ولسوالی شکردره ولایت کابل به منظور پاکی و صفایی و حفاظت از محیط زیســت این ولســوالی، نهال های اطــراف سرک این ولسوالی را آبیاری نمودند.**




شکردره/کابل ۵۰

## د ښاري نظم کمیسیون د ګرشک ښار د څلورمې ناحیــې څخه لیدنه وکړه





هلمند ۵۱

د ګرشــک ښاروالۍ د ښــاري نظم کمیسیون چې د ګرشک ولســوالۍ د مختلفو ادارو له استازو څخه ترکیب وو د ګرشک ښار د څلورمې ناحیې څخه لیدنه وکړه.

او په یــاده ناحیه کې چې کوم ځایونه غصب شــوي وو چې سړکونه، پارکونه او عام المنفعه ځایونه پکې شامل و.

د ګرشــک ښــاروالۍ د تفصیلي پلان مطابق د ســړکونو او پارکونو نقشــې مشــخصې شــوې چې ډېر ژر به د غصب د مخنیوي په موخه عملي اقدام وشي او عامې لارې پارکونه او نور عام المنفعه ځایونه به د غصب څخه خلاص شي.

## جلسهٔ اداری شــاروالی میمنه ولایــت فاریاب برگزار شد




فاریاب ۵۲

جلســهٔ اداری شــاروالی میمنه به ریاسـت مفتی گل‌احمد مبشر، شــاروال شــهر میمنه امروز سه‌شــنبه با اشــتراک کارمندان اداری شــاروالی میمنه در تالار جلسات شاروالی برگزار گردید.

مفتــی گل احمد مبشر ضمن قدردانی از کارکردها و فعالیت های کارکنان، پیرامــون اهمیت و مؤثریــت، امانت‌داری و مسئولیت‌پذیری در انجام امور محوله و ارائهٔ خدمات بهتر به شــهروندان از دیدگاه دین مبین اسلام سخنانی ایراد نمود. وی همچنان تأکید کرد که به‌منظور ایجاد شهر متمدن و توسعه یافته، باید از سهل‌انگاری در امور کاری به‌شدت پرهیز شود.

سپس قاری سعدالدین سعادت، مدیر عمومی مالی و اداری شاروالی میمنه گزارشی را از روند جمع‌آوری عواید در جریان سال مالی ۱۴۰٤ از منابع مختلف عایداتی شاروالی ارائه نمود.

انجنیر خال محمد حمیدی، مدیر عمومی تخنیکی و مسلکی شــاروالی نیز پیرامون تعیین سرحدات نواحی از سوی هیئت اعزامی از مرکــز معلومات و دیدگاه‌های خــود را با اعضای جلسه شریک ساخت.

در پایان، اشــتراک‌کنندگان نظریات و پیشنهادات خویش را در رابطه با موضوعات مطرح‌شده ارائه کردند که تصامیم لازم در پیوند به آنها اتخاذ گردید.

**شــاروالی انجیل ولایت هرات، ۱۰۰۰ بته گل زینتی را درپــارک برادر به هدف زیباســازی ایــن پارک غرس نموده است.**



هرات ۵۳

**شاروالی شــهر قلعه‌نو ولایت بادغیس، به ارزش بیش از ۶۰۰ هزار افغانی چندین پلچک کوچک و بزرگ را در داخل و نواحی این شهر تکمیل و به بهره‌برداری سپرده است.**




بادغیس ۵۴

رغونه
اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او
لاسته راوړنو خبري اونیزه

دافغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


بخش تنظیف شاروالی نهرین ولایت بغلان، طبق پلان کاری خویش به طور روزانه، جوی های اطراف سرک عمومی داخل شهر را حفر و کثافات موجوده را به جای مناسب در رود خانه کنار شهر انتقال داده است از جانب دیگر، مدیریت املاک این شاروالی از پنج باب ساختمان های رهایشی و تجارتی که بدون نقشه و بطور خود سر در حال اعمار بوده جلوگیری نموده اند.




## اطلاعیه

### اطلاعیه ریاست شاروالی مزارشریف

شاروالی مزارشریف در نظر دارد تا در سال مالی ۱۴۰٤ اخذ محصول از موتر های بابری ذغال سنگ واقع دو راهی حیرتان را از طریق داوطلبی به اجاره بدهد. افراد و اشخاص، شرکت‌ها و موسساتیکه خواهش داوطلبی آنرا طور قرارداد داشته باشند مطابق شرطنامه داده شده در خواستی های خویش را از تاریخ ۷/۱۱/۱٤٤٦ نشر اعلان به آمریت تدارکات و قراردادها شاروالی شهر مزارشریف سپرده و خودشان بعد از تاریخ نشر اعلان الی مدت (۲۱) روز تقویمی به دفتر مدیریت تسهیل قرارداد ها مراجعه نمایند. تضمین پول نقد به مبلغ ٤۰۰۰۰۰ (چهارصد هزار افغانی) بوده و طبق ماده ۲۹ فقره ۸ طرزالعمل تدارکات نقل چاپ شده را با پرداخت قیمت شرطنامه به مبلغ ۳۰۰۰ سه هزار افغانی از مدیریت تسهیل قراردادها به دست بیاورید.

شرطنامه و مشخصات را ملاحظه، شرط شمول عدم باقیداری بوده و تضمین نقد اخذ می گردد.

ولایت مزار شریف

شاروالی ولسوالی انجیل ولایت هرات، کار پاک کاری دو طرف کانال‌های شاهراه عمومی امام بخاری (رح)، سرک ملان و سرک بهارستان را آغاز نموده است و کثافات جمع آوری شده را به ساحه دور از شهر انتقال نموده است.

هرات ۵۶

## کار آسفالت لایه اول لین شمال سرک تانک مولوی الی پل جبرئیل در شهر هرات آغاز گردیده است




شاروالی هرات، کار آسفالت لین شمال سرک از مسیر تانک مولوی الی پل جبرئیل مربوط نواحی دوازدهم و سیزدهم شهر هرات را، که مراحل زیرسازی آن قبلاً از سوی این شاروالی تکمیل گردیده بود، امروز رسماً آغاز نموده است.

گفتنی‌ست آسفالت و احداث پلچک‌های مورد ضرورت این پروژه، به طول ۲٦۰۰متر در عرض ۱۰٫۵ متر به‌هزینهٔ بیش از ٤۲ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی هرات توسط شرکت ساختمانی و سرکسازی بنا گران افغان تطبیق می‌شود.

از جانب دیگر، شهروندان هرات با ابراز خرسندی از آغاز کار آسفالت این پروژه بزرگ می گویند که با تکمیل آسفالت آن، علاوه بر برطرف شدن مشکلات گرد و خاک، از حوادث ترافیکی جلوگیری شده و رفت‌وآمد شهروندان نیز آسان‌تر می‌شود.


شاروالی انجیل ولایت هرات، چندین باب قوریه و گل خانه را ایجاد نموده است که این شاروالی تمام ساحات مورد نظر خویش را از قوریه های ذیل اکمال می نماید.




شاروالی ولسوالی انجیل ولایت هرات، سرک های مربوط به گذر ۲۱ خشت پاشان در ناحیه سوم این ولسوالی را تنویر نموده است که با استقبال گسترده باشنده گان محل مواجه شده است.




## شاروال چاریکار از جریان کار پروژه کانکریت ریزی سرک فرعی نظارت به عمل آورد




حافظ راز محمد یاسر، شاروال شهر چاریکار ولایت پروان جهت بهبود کیفیت و تسریع کار از پروژه کانکریت‌ریزیِ ۱٫۵ کیلومتر جاده فرعی نظارت نمود.

شاروال چاریکار جهت با کیفیت بودن مواد کانکریت‌ریزی و مطابقت کار شرکت با پروپوزل پروژه متذکره برای شرکت قراردادی تذکر داد.

قابل ذکر است که کار کانکریت‌ریزی جاده‌ی فرعی ناحیه سوم و چهارم شهری همه روزه از طرف هیئت مختلط مقام ولایت پروان، ریاست شهرسازی ولایت پروان و شهرداری شهر چاریکار نظارت می‌شود.

کار پروژه مذکور حدود ۹۰ درصد پیشرفت نموده است و عنقریب مورد بهره‌برداری قرار خواهد گرفت.

## گرشک ښار د ملي بسونو د نماینده‌ګیو د انتقال پروسه جریان لري




په ګرشک ښار کې د ملي بسونو نماینده‌ګۍ چې د ښار په منځ کې یې موقعیت درلود رش او ګڼه ګوڼې ډیره وه، د ښاري نظم او د ټکرونو د مخنیوي په موخه ګرشک ښاروالۍ یادې نماینده‌ګۍ د مسترپانو شهرک تجارتي ساحې ته انتقالوي.

چې د انتقال پروسه یې نن د ښاروال صاحب د هدایت سره سم د ګرشک ښاروالۍ د تنظیم ګډ پلاوي له لوري عملاً شروع شوه.

د ګرشک ښاروالۍ له لوري د یاد ځای سرک هوارولو او د نماینده‌ګیو ځای د تعین چارې جریان لري.

## د اسعداباد ښار لاسي کراچۍ پلورونکو اسعداباد ښاروال سره وکتل

د ښار بېلابېلو برخو څخه د لاسي کراچیو پلورونکو د خپلو ستونزو د حل په موخه د اسعداباد ښاروال مولوي نظرمحمد عتیق سره وکتل.

د لاسي کراچیو په تنظیم، ښاري نظم رعایت، لارو خلاصون او دې ته په ورته موضوعاتو خبرې وشوې.

ښاروال د لاسي کراچیو پلورونکو څخه د ښاري نظم په برخه کې د همکاریو هیله وکړه.

کنړ ۶۲

### د غصب شویو عامه لارو د بیا خلاصون په موخه د مرکزي بغلان ښار کې د امارتي چارواکو له لوري ګډ کمېسیون جوړ شو




بغلان ۶۳

د بغلان ولایت، مرکزي بغلان ښار کې د عامه شتمنیو د ساتنې، ښاري نظم ټینګښت او د خلکو د تګ راتګ د اسانتیا لپاره د څو ادارو ترمنځ یو ګډ کمېسیون جوړ شو.

یاد کمېسیون د ښاروال قاري لطف الله عبیده په ګډون، د مرکزي بغلان ولسوال معاون میرویس عمیر، د تعقیب او نظارت امر مولوي صاحب سرور، د مستوفیت اداري لوی مدیر ملا فتاح، د امر باالمعروف غړي مولوي صاحب حمید او امنیتي اورګانونو په ګډون رامنځته شو.

کمېسیون د ښار له هغو برخو لیدنه وکړه چېرې چې دوکاندارانو د پیاده رو لاره، شنه ساحه او عامه ځایونه غصب کړي وو او د خلکو د تګ راتګ مخه یې نیولې وه.

چارواکو له نږدې د وضعیت څارنه وکړه او د عامه لارو د خنډونو د لرې کولو په موخه یې دوکاندارانو ته سپارښتنې او لارښوونې وکړې، ترڅو یادې سیمې له غصب څخه خلاصې شي او ښاري نظم تامین شي.

دا ګام د ښاري اصلاحاتو او د خلکو د هوساینې په موخه د امارت له مهمو هڅو څخه شمېرل کېږي.

### خوست ښار دویمه ناحیه کې ۱۶۰ کثافاتداني ځای پر ځای شوې



خوست ۶۴

د خوست ښاروالی د تنظیف برخې مسؤولین د دویمې ناحیې له کارکوونکو سره په ګډه شپې ناوخته، د امنیه قومنداني څخه تر بلند منزلو لین او له سیټي سنټر څخه تر مجاهد څلورلارې پورې چې د دویمې ناحیې مربوطه ساحه ده ۱۶۰ کثافاتداني د سړوې وروسته ځای پر ځای کړې، چې د کثافاتو په خوندیتوب کې به مرسته وکړي.

د ښاروالی اداره له ټولو ښاریانو غواړي، چې اضافي توکي په سړکونو، پلې لارو او لښتیو کې مه غورځوئ، بلکې نصب شویو کثافاتدانیو ته یې واچوئ، ترڅو یې د تنظیف کارکوونکي پر خپل وخت انتقال کړي.

### په مهترلام ښار کې د پاک چاپېریال ساتنې په موخه ۲۶ عدده کثافت داني لګول کېږي

مهترلام ښاروالی د پاک چاپېریال ساتنې او ښاري نظم د ښه والي په موخه د مهترلام ښار په بېلابېلو سیمو کې د ۲۶ عدده کثافت دانیو د لګولو چارې ترسره کوي.

د دغې پروژې د عملي کولو لپاره نن د مهترلام ښاروالی د ځانګړې ټاکل شوې کمیټې په حضور کې داوطلبي ترسره شوه، چې پکې اوو شرکتونو ګډون کړی و، له یادو شرکتونو څخه د نعمان عبدالاحد رحیمي ودانیز شرکت، د ۹۳۱ زره افغانیو په نرخ وړاندې کولو سره، د داوطلبۍ په لومړي پړاو کې ګټونکی اعلان شو.

د ښاروالی د ټاکل شوې کمیټې غړي وایي، چې وروستی پرېکړه به د ارزیابۍ کمیټې له خوا وشي او تر ارزونې وروسته به رسمي ګټونکی شرکت اعلان او ورسره به قرارداد لاسلیک شي.

یادي کثافت داني چې ۲۰ عدده یې غټې فلزي او ۶ عدده کانکریټي شاملې دي د پاک چاپېریال ساتنې په موخه به د مهترلام ښار په پنځه ګونو ناحیو کې ولګول شي.

لغمان ۶۵

### مزارشریف ښاروال، د ښار دویمې ناحیې لوړ پوړیزو ودانیو جوړولو چارو څخه څارنه وکړه

مزارشریف ښار کې د ښاروالی اصولو او مقرراتو څخه سرغړونې په تور د یوې لوړپوړیزې ودانۍ جوړولو چارې ودرول شوې.

د ښار معیاري ودې، پرمختګ او ښاري نظم ټینګښت په موخه د مزارشریف ښاروال حافظ عبدالرحمن د ښار دویمې ناحیې اړوند لوړ پوړیزو ودانیو جوړولو چارو څخه له نږدې څارنه ترسره کړه، چې پر مهال یې د ښاروالی سکټوري او تخنیکي رئیس استاد محمد جاوید مایار او د ښاروالی دویمې ناحیې امر قاري لعل محمد منصور هم ملتیا کوله.

د څارنې پر مهال د مزارشریف ښاروال حافظ عبدالرحمن همت د لوړپوړیزو ودانیو مسؤولینو ته سپارښتنه وکړه، ودانیو جوړولو چارې د ښاروالی اصولو او مقرراتو مطابق مخته بوځئ او ساختماني سرغړونو څخه ډډه وکړئ، ترڅو ودانۍ په ښه کیفیت او ساختماني معیارونو برابرې ورغول شي.

همدارنګه د مزارشریف ښاروالی سکټوري او تخنیکي رئیس استاد محمد جاوید وویل؛ ښاروالی ریاست تل د ښاري نظم ټینګښت په موخه هڅه کوي، څوک چې د ښاروالی اصولو او مقرراتو څخه سرغړونه ترسره کړي قانوني او اصولي چلند سره به مخامخ شي.

بلخوا د لوړپوړیزو ودانیو مسؤولینو ژمنه وکړه، ساختماني چارې به د ښاروالی اصولو او مقرراتو مطابق مخته بوځي او هر ډول ساختماني سرغړونو مخه به ونیسي.

مزار شریف ۶۶

### ښرنې ښاروالی له لوري ښار کې د پلان خلاف رغول شوې حویلۍ له منځه یوړل شوې



پکتیکا ۶۷

د ښرنې ښاروالی او د پکتیکا ولایت د کور او ښار جوړولو ریاستونو د ګډ اقدام په ترڅ کې د ښار داخل د غزني په مسیر د پلان خلاف په خپل سر رغول شوې څلور حویلۍ له منځه یوړل شوې.

د ښرنې ښاروالی ریاست د طرحې او ډیزاین انجنیر خبیب وایي، یادې حویلۍ د ښرنې ښار غزني په مسیر په پټه د شپې لخوا د پلان خلاف او په غیر قانوني ډول رغول شوې وې.

د نوموړي په خبره، له خبرېدو سره سم ښاروالی ریاست د حویلیو خاوند ته خبرداری ورکړ، چې جوړې شوې حویلۍ د پلان خلاف او غیر قانوني دي او باید له منځه یوړل شي، خو له څو ځلي خبراوي وروسته یې نن ورځ د ښرنې ښاروالی او د پکتیکا ولایت د کور او ښار جوړولو ریاستونو د مشرتابه په هدایت د یادو حویلیو د ړنګولو اقدامات ترسره کړل.

ښرنې ښاروال الحاج مولوي سردارولي ثابت وایي، هڅه کوي په ټولو برخو کې ښاریانو ته اسانتیاوې برابرې کړي، خو د پلان او اصولو خلاف هیچاته په خپل سر د فعالیت اجازه نه ورکوي.

نوموړي زیاتوي، هڅه کوم په ټولو برخو او د اصولو په رڼا کې ښاریانو ته سهولتونه ایجاد شي، کارونه یې په خپل وخت خلاص او ستونزو ته یې رسېدنه وشي، مګر دا چې یو څوک په پټه د شپې لخوا د پلان او ښاروالی له اصولو خلاف عمل ترسره کوي، دا ورته د منلو نه دی او په راتلونکې کې به هم په جدي ډول د دا ډول کړنو مخه ونیسي.

د ښاغلي ثابت په خبره د مرکزي او ولایتي ادارو د رسمي هدایت له مخې یې یاد اقدام ترسره کړی.

### لښکرګاه ښار شکایتونو ته د رسېدنې کمیټې ناسته ترسره کړه

د هلمند مرکز لښکرګاه ښاروال حافظ صدیق په هدایت، د ښاروالی مرستیال مولوي نیک محمد امتي په مشرۍ شکایتونو ته د رسېدنې کمیټې ناسته ترسره کړه.

یادې کمیټې د یو شمېر ښاریانو ستونزې واورېدې او د ستونزو د حل په موخه یې مربوطه شعباتو ته موضوعات وړاندې کړل.

د یادونې وړ ده چې د لښکرګاه ښاروالی اړوند یاده کمېټه مسلسلې ناستې لري او د ښاریانو هغه ستونزو ته چې یو د بل په وړاندې یې خلق کړې وي د حل لارې لټوي.

هلمند ۶۸

## قلات ښاروالۍ له خوا په ښار کې له یو شمېر قصابانو څخه لیدنه ترسره شوه




د قلات ښاروالۍ د مارکېټونو د تنظیم مدیریت او نظارت کمېټې په ښار کې د یو شمېر قصابانو د کاري چاپېریال او د صحت د کارتونو له څرنګوالي څخه څارنه وکړه.

د دغو څارنو په لړ کې قصابانو ته لارښوونه وشوه تر څو د ښاروالۍ له خوا ورکول شوي کاري لارښود ته بشپړه پاملرنه وکړي.

د یادولو وړ ده چې وراندې تر دې قلات ښار ټولو قصابانو ته د ښاروالۍ لخوا د کاري لارښود پاڼې وېشل شوې وې، څو قصابان خپل د کار ځای معیاري جوړ کړي او ترڅنګ هغه توکي چې د قصابۍ په برخه کې اړین دي عملي کړي، په یاد لارښود کې د قصابۍ اړوند ټول اصلاحي ټکي واضح شوي او قصابان مکلف دي څو د ښاروالۍ دغه لارښود ته ژمن پاتې شي او ډېر ژر اصلاحات راولي.

## د غزني ښاروالۍ له لورې د توحیداباد سړک رغولو چارې روانې دي




د غزني ښاروالۍ په همغږۍ او ملګرو ملتونو د دفتر په همکارۍ د ښار په پنځمه ناحیه کې د توحیداباد سړک د رغولو چارې روانې دي.

چې دا مهال یې د کیندلو، هوارولو او د خاورو د لېږد چارې د سیمه ییزو کارکوونکو له لورې پر مخ وړل کیږي.

د دغې پروژې مسؤول انجنیر عظیم شاه عظیمي د معلوماتو له مخې دغه سړک چې د کابل کندهار له عمومي سړک څخه پیلیږي ۵۲۰ متره اوږدوالی ۶ متره او ۳۰ سانتي پلنوالی لري چې د راتلونکو ۳ میاشتو په موده کې به په بشپړه توګه د کانکرېټ په بڼه ورغول شي.

په دغه پروژه کې ۲۰۰ ځوانانو ته د کار زمینه برابره شوې ده، چې د کار په بدل کې پیسې ورکول کیږي او د دغو پروژو موخه د سړکونو جوړونې تر څنګ ښاریانو ته د کاري فرصتونو برابرول دي.

د ښاروالۍ ریاست مسؤولین وايي؛ چې د ښاري خدمتونو د پراخولو او اسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه د ښار په بېلابېلو سیمو کې لسګونه پروژې د پلي کولو په حال کې دي.

## اسعداباد ښار په دویمه ناحیه کې د سړک غاړې بند شوې لښتې پاک شول




د اسعداباد ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ کارکوونکو د ښار په دویمه ناحیه کې د سړک غاړې بند شوي لښتي چې د پیاده لارو د تخلیې په مهال بند شوي و پاک کړل.

د ښاروالۍ خدماتي پرسونل هڅه کوي چې درنو ښاریانو ته په وخت موثر خدمات وړاندې کړي.

## جلسه گزارش دهی فعالیت های انجام شده شاروالی بامیان دایر شد




جلسه گزارش دهی فعالیت های انجام شده شاروالی بامیان از بابت سال مالی ۱۴۰۳ در تالار کنفرانس های شاروالی بامیان با اشتراک نمایندگان ادارات، وکلای گذر، اعضای بورد مشورتی، متنفذین، علما، نمایندگان اصناف شهر، جوانان و رسانه های محلی بامیان دایر گردید.

علی پدرام نماینده مقام ولایت بامیان در رابطه به تعهد مقام ولایت در راستای تقویت برنامه های انکشافی و خدماتی شاروالی بامیان صحبت نمود و از ادارات ذیربط و شهروندان بامیان خواست که شاروالی بامیان را حمایت نمایند.

محمد ذکی مصباح نماینده علما در بورد مشورتی شاروالی بامیان در رابطه به ترویج و تعمیم فرهنگ نظافت و پاکی شهر در پرتو آموزه های دین مقدس اسلام صحبت نمود و از شهروندان بامیان و ادارات خواست که در قسمت تنظیف شهر همکاری داشته باشند.

در ادامه گزارش فعالیت های شاروالی بامیان بابت سال مالی ۱۴۰۳ در بخش های حکومتداری شهری و مشارکت عامه، عواید و مصارف، عرضه خدمات و ظرفیت پروری و همچنان پلان سال مالی ۱۴۰۴ توسط مسئولین بخش های مربوط ارائه گردید.

در سال مالی ۱۴۰۳ مجموع مصارف شاروالی بامیان مبلغ ۷۱۲۱۳۳۷۳ افغانی بوده که مبلغ ۴۹۷۶۹۹۲۵ افغانی آن در بخش انکشافی و متباقی آن در وجه معاشات و مصارف عادی به مصرف رسیده است.

نظریات و پیشنهادات شهروندان در رابطه به بهبود امور شهر شنیده شد و به تعقیب آن از ۱۲ تن شهروند فعال که شامل ادارات، سکتور خصوصی، وکلای گذر و رسانه های محلی بامیان که بهترین همکاری را با شاروالی داشتند با اهدای لوح سپاس تقدیر به عمل آمد.

## په کندهار ښاروالۍ کې د مستهلکینو د ملاتړ کمېسیون له خوا د کندهار ښار له صنعت کارانو سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه

د کندهار ښاروالۍ د غونډو په تالار کې د مستهلکینو د ملاتړ کمېسیون غړو د کندهار ښار له صنعت کارانو سره د همغږۍ ناسته وکړه، چې په کې په یو شمېر مهمو او اړینو موضوعاتو هر اړخیز بحث ترسره شو.

یاده ناسته د قرانکریم د څو مبارکو ایتونو په تلاوت کولو سره پیل شوه، په پیل کې د امربالمعروف ریاست اړوند د مستهلکینو د ملاتړ کمېسیون یو تن غړي په اسلامي نظام کې د امر او حکم پر ارزښت خبرې وکړې او وروسته یې ټولو راغلو صنعت کارانو ته د مشرتابه د حکم په اساس د مستهلکینو د ملاتړ کمېسیون اصول واضح کړل.

هغه ټینګار وکړ چې ټول صنعت کاران باید له سود اخیستو څخه ځان وساتي، د احتکار مخنیوی وکړي، د خپلو اجناسو عیبونه څرګند کړي، په وزن او پیمانه کې خیانت ونه کړي، هغه شیان خرڅ نه کړي چې شرعاً یې خرڅول حرام دي، پر تولید شویو توکو دې د ذیروح موجوداتو عکسونه نه لګوي او د تولید په برخه کې دې د بل شخص له نامه څخه استفاده ونه شي.

وروسته نوموړي د خپلو خبرو په جریان کې د مستهلکینو د ملاتړ کمېسیون موخې او اهداف تشریح کړل، هغه وویل چې په ښار کې د نرخونو کنټرول، د خوراکي او غیرخوراکي توکو کیفیت او وخت، د نرخونو کنټرول او د احتکار مخنیوی د کمېسیون له مهمو اهدافو څخه دي.

نوموړي له راغلو صنعت کارانو څخه جدي غوښتنه وکړه، چې د مشرتابه د حکم په اساس ترتیب شوي اصول په ځان عملي کړي، که عملي نه شي بیا ورسره شرعي، اصولي او قانوني چلند کیږي.

ورپسې د صنعت او سوداګرۍ ریاست د صنعتي پارکونو امر هم خبرې وکړې او د کمېسیون له اصولو سره یې خپله همکاري څرګنده کړه.

هغه زیاته کړه، چې په تجارت کې د بل شخص له نوم څخه ناوړه استفاده، احتکار، غیر سالم رقابت او د بې کیفیته موادو ګډول په تولیداتو کې هغه کړنې دي چې باید جدي مخنیوی یې وشي.

په پای کې، د صنایعو او معدنونو رئیس د صنعت کارانو په استازیتوب وینا وکړه، نوموړي وویل، چې د کورني صنعت د پراختیا لپاره جوړ شوي اصول او پالیسۍ ډېرې ګټورې دي، ځکه چې صنعت په افغانستان کې نوی دی او باید پوره توجه ورته وشي.

هغه غوښتنه وکړه، چې پورته یاد شوي موضوعات دې د صنعت کارانو لپاره د یوې منظمې تګلارې په توګه عملي شي، د کورني تولیداتو حمایه وشي، د بې کیفیته توکو مخنیوی دې وشي او پر فعالیتونو یې دوامداره او مؤثر نظارت وشي.

کندهار
۷۳

رغونه
اونیزه

د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او
لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

در پی بارندگی‌های شدید روزهای اخیر، مقدار قابل توجهی از رسوبات ناشــی از سیلاب‌ها در حاشیه جاده عمومی مســیر ناحیه ششــم الی شهر کهنه فیض آباد انباشته شده بود توسط کارکنان شاروالی پاک‌سازی گردید و تمامی رسوبات جمع‌آوری و به بیرون از شهر انتقال داده شد.




مفتی محمد ادریس انوری والــی ولایت پروان با حافظ جاوید ضیاءالرحمن قومنــدان امنیه ولایت پروان و حافظ راز محمد یاسر شــاروال چاریکار از جریــان کار کانکریــت ریــزی ۱،۵ کیلومتر جاده فرعی در نواحی سوم و چهارم شهر چاریکار بازدید به عمل آورده و بر کیفیت کار تأکید نمودند.




تیــم تنظیم مارکیــت های شــاروالی مزارشریف از ساحات ناحیه دوم نظارت نمود




به اســاس هدایت حافظ عبدالرحمن همت، شــاروال شهر مزارشریف و به منظور تحکیم نظم شهری، تیم تنظیم مارکیت های شــاروالی مزارشریف از رسته مندوی واقع در ناحیه دوم شهر دیدار و نظارت نمود.

تیم تنظیــم مارکیت های شــاروالی مزارشریــف برای همه دکانداران ســاحه مذکور خاطر نشان کرد تا مطابق نرخنامه های توزیع شــده اموال شان را بفروش برساند و به هیچ وجه اضافه ستانی نکنند.

جلسه حســابدهی و معلوماتی ربع چهارم سال مالی ۱۴۰۳ریاست شــاروالی شهر نیلی دایر شد




جلســه حســابدهی ربع چهارم ســال مالی ۱۴۰۳ریاست شــاروالی شــهر نیلی ولایــت دایکندی با حضور داشــت مســؤولین شــاروالی، آمر انســتیتوت تخنیکی و مسلکی، وکلای گذر، متنفذین، استادان، محصلین، اصحاب رسانه و اعضای کمیته در انستیتوت تخنیکی و مسلکی برگزار گردید.

مدیر عمومی حکومتداری شــهری هدف از برگزاری جلسه حســابدهی و معلوماتی را به طــور مفصل ارائه نمود و در ادامه پرزنتیشــن معلوماتی که در ســه بخش حکومتداری شــهری، تخنیکــی و مســلکی، مالــی و اداری و عواید و مصارف تهیه وترتیب گردیده بود توســط مسؤولین بخش های مربوطه ارائه گردید.

خداداد نیک نام، آمر انســتیتوت تخنیکی و مسلکی ولایت دایکندی از کارکرد های شــاروالی ابــراز قدردانی نموده و از مردم شهر نیلی خواست که با شاروالی در قسمت جمع آوری صفای همکار باشند تا شاروالی بتواند پروژه های سال مالی ۱۴۰۴ خویش را در شهر نیلی تطبیق نماید.

در آخر نظریات، پیشــنهادات و مشوره های مردم با شاروالی شریک گردید و جلسه با دعای خیر اختتام یافت.

د ترینکــوټ ښــاروالۍ د ښــارې زرغونتیــا برخــې کارکوونکو لخوا د نیالگیو خړوبولو چارې ترسره شــوې




د ترینکــوټ ښــاروالۍ ریاســت اړونــد د ښــارې زرغونتیا کارکوونکو لخوا د ښــار شــنو ســیمو د پالنې لپاره د زرغونو ساحو، نیالگیو، زینتي بوټو، تفریحي پارکونو د خړوبولو چارې ترسره شوې.

د ترینکوټ ښــاروالۍ رهبرۍ د دغه ولایت له ټولو ښــاریانو غوښــتنه کوې؛ ترڅو د نیالگیو او زرغونو ســیمو د ساتنې او پالنې په برخه کې همکارې وکړې.

د یاد ریاســت د تخنیکې او مســلکې چــارو عمومي مدیر خالقداد امیني وایي چې د تنظیف کارکوونکو ته دنده سپارل شــوې ده چې په اوونۍ کې ۳ ځلــه د نیالگیو او زینتي بوټو خړوبولو چارې ترسره او د زینتي بوټو، تفریحي پارکونو کې د چمنونو څخه د لا ښــې ودې په موخه د ښکاره گیاوو ایستولو ته زیاته پاملرنه وکړې.

سیمینار آموزشــی و حقوقی از سوی دفتر (NRC) ولایت فاریاب برای ۳۰ تن از وکلای گذر به هدف ارتقای سطح آگاهی عامه در زمینه‌های حقوقی، به ویژه موضوعات مربوط به میراث و اسناد مدنی در تالار جلسات شاروالی میمنه برگزار گردید.




ګردیز ښار پلي لارو خلاصون په موخه، له ښاري نظم څارنه وشوه




د بشــپړ ښــاري نظم د راتګ او د ګڼي ګوڼي د کمښت په موخه، نن ورځ ښــاري انضباط مدیر ظهورالله امیري لخوا، ګردیز ښــار د ګڼي ګوڼي ډکو ســاحو کــې؛ غزني لین او ســپین مارکېټ کوڅه کې د ښاري نظم څخه څارنه ترسره شوه او ورته مهال د ســبزۍ پلورونکو هغه فعالیت کوونکي چــې د تګ راتګ پر ورانديږ يې پیاده لارې او ښــار فرعي سړکونه بند او ستونزې را ولاړې کړې وې، د دوی فعالیتونه تنظیم کړل.

د دې ترڅنګ ګردیز ښاروال حبیب الله اخندزاده حامد په پلي ډول وخت ناوخت د ګردیز ښــار د وضعیت څخه څارنه کوي، په پلي لارو او ســړکونو کې د خنډونو مخنیوي لپاره اړونده ناحیو مســؤولین هڅولي څو ښاري اصولو تطبیق ته کار وکړي او د ښاریانو فعالیتونه قانوني کړي.

د ګردیــز ښــاروالۍ ناحیو مســؤولین، مارکېټونــو تنظیم مدیریت او ښــاري انضباطانو ســیارې ډلې د ښــار ګڼې ګوڼې نقطې وخت پر وخت څارې او د ښاریانو سوکالۍ او د ښــاري نظم په موخه، له پلي لارو او ســړکونو د خنډونو لرې کولو او لویو سړکونو بندښت د مخنیوي کار لومړیتوب ګڼــي او هڅه کوي څو د ګرځنده پلورونکو، لاسي پلورونکو او ســیارو کراچیو ستونزه په مخنیو توګه حل کړي.

## جلسه اداری ریاست شاروالی شبرغان برگزار گردید




جلسه اداری ریاست شاروالی شبرغان ولایت جوزجان به منظور جمع آوری عواید، گزارش دهی به موقع و ترتیب پلان با حضورداشت کارکنان این اداره در تالار این ریاست دایر گردید.

الحاج مولوی فضل المنان عمری، شاروال شبرغان طی صحبت های همه جانبه خویش درباره موضوعات فوق صحبت نمود و درباره برخورد مناسب با مراجعین و طی مراحل قانونی اسناد اداری تأکید کرد.

## د مهترلام ښاروال په مشرۍ له امرینو او مدیرانو سره اداري ناسته ترسره شوه

په پیل کې مهترلام ښاروال مولوي رحمت‌الله شهامت، د تېرې اداري ناستې راپور واورېد او د راپور له ارزونې وروسته یې لاندې مهمې پرېکړې او لارښوونې وکړې.

ښاروال ښاغلي شهامت ټولو امرینو او مدیرانو ته لارښوونه وکړه چې اداري او خدماتي کارونه باید د پلان مطابق پر وخت ترسره کړي، که هرچا په کارونو کې غفلت وکړ قانوني چلند ورسره کېږي چې بیا حق د شکایت نه لري.

هغه وویل؛ د ښاروالۍ د انجینرۍ برخې لابراتوار به ژر تر ژره فعال شي ترڅو تخنیکي چارې لا اغېزمنې شي، نوموړي زیاته کړه د ښاروالۍ دواړو ودانیو لپاره به سولري سیستمونه هم برابر کړل شي ترڅو د برېښنایي خدمتونو دوام یقیني شي.

ښاروال همدا راز د ترانسپورټ اړوند ټولو ډریورانو ته سپارښتنه وکړه چې د پارکونو او گلدانونو خړوبول باید د ټاکلي پلان مطابق ترسره کړي او د محاسبې مدیریت ته یې دنده وسپارله چې پنځه کسان باالمقطع کار لپاره وګماري او تخنیکي او مسلکي امریت ته یې وسپاري، ترڅو د قانوني نمرو د خط اندازۍ چارې پیل شي.

نوموړي د کثافاتو د منظم انتقال لپاره لارښوونه وکړه، وې ویل هغه موټر چې د ښاروالۍ کثافات انتقالوي باید په کثافاتو باندې د انتقال پر وخت ترپالونه کش کړي، ترڅو کثافات په منظم شکل انتقال او یو پاک او سالم چاپېریال برابر شي.

همدا راز د ناستې په پای کې ښاروال په شنو ساحو کې د کیو او غرفو جوړولو په اړه وویل، هیڅوک حق نه لري چې په شنه ساحه کې غرفه او کیوه نصب کړي، نوموړي، تخنیکي او مسلکي امریت ته دنده وسپارله چې له شنو ساحو څخه ټولې غرفې او کیوې لرې کړي.

لغمان
۸۲

## غزني ښار د شپږمې ناحیې مدیر مولوي زبیر د نواباد سیمې له وکیلانو سره ناسته وکړه




په دې ناسته کې، چې د ښاري نظم، د بازار د سمون، د جوړولو او رغولو قانوني چارو او نورو اړوندو ښاري ستونزو په اړه بحث وشو، ګډونوالو خپلې ستونزې او وړاندیزونه د ناحیې له مدیر سره شریک کړل.

د شپږمې ناحیې مدیر ډاډ ورکړ، چې د ښاري نظم ټینګښت، د غیر قانوني چارو مخنیوي او د بازار د سمون لپاره به لازم اقدامات ترسره شي.

نوموړي وویل: د خلکو نظریات او همکاري زمونږ لپاره ارزښت لري او مونږ هڅه کوو، چې د ښاري خدمتونو کیفیت لا ښه کړو.

غونډه په تفاهم، همغږۍ او راتلونکو همکاریو باندې د تأکید سره پای ته ورسېده.

## غزني ښار د قلعه امیرمحمدخان په سیمه کې د ۱۶ میلیونو افغانیو په ارزښت ۲ د سړک جوړولو پروژې پیل شوې




د غزني ښاروالۍ ریاست او ملګرو ملتونو د دفتر په مالي ملاتړ د ښار په پنځمه ناحیه کې د سړک دوه مهمې پروژې د ۱۶ میلیونو افغانیو په ارزښت پرانیستل.

د دغو پروژو د پرانیستې په مراسمو کې د غزني ښاروال مولوي محمدنبي حمزه، سکتوري او مسلکي امر فضل احمد مدني مالي او اداري امر مولوي عبدالغفور سحر او یو شمېر دولتي چارواکو ګډون کړی وو.

د سکتوري او مسلکي چارو امر فضل احمد مدني وویل: دغه دوه پروژې د قلعه امیرمحمدخان په سیمه کې د ۱٦ میلیونو افغانیو په ارزښت تطبیقیږي چې د دې سره ۲۰۰ خوانانو ته د کار زمینه برابره شوې ده او تمه ده چې د راتلونکو ۳ میاشتو په موده کې بشپړې شي.

د ښاغلي مدني په وینا: د دغه سړک اوږدوالی ۱۲۰۰ متره او پلنوالی یې ٦ متره دی چې د دې سره به د سرتور بابا، نصرت مبنې، توحیداباد او حسن اباد خلکو ته د تګ راتګ اسانتیاوې برابرې شي.

## ګردیز ښار کې د ولایتي ادارو ګډې کمیټې د توکو وزنونو څخه څارنه وکړه




ګردیز ښاروالۍ د مارکېټونو تنظیم مدیریت او ولایتي ادارو ګډې کمېټې د ښار په هټیو کې د توکو وزن کنټرول ترڅنګ د احتکار مخنیوي او بیو کنټرول په موخه د ښار هټۍ وڅارلې.

دغه لړۍ له دې وروسته د ګردیز ښاروالۍ مارکېټونو تنظیم مدیریت او ګډې کمېټې له لوري د ښار په ټولو برخو کې په منظمه او دوامداره ډول مخته وړل کیږي.

ګردیز ښاروالۍ په خپل تشکیل کې د مارکېټونو تنظیم مدیریت لري، چې د بازار تنظیمولو چارې، بیو کنټرول له احتکاره مخنیوی او د لومړنیو توکو کمیت او کیفیت څاري.

دغه مدیریت د سرغړونې د لیدو په صورت کې د ښاریانو همکاري ضروري بولي.

## ګردیز ښاروال د میرزکي لین سړک د کار له جریان څخه لیدنه وکړه




ګردیز ښار مرکزي نقطې په ختیځه برخه کې د سیدکرم لین سړک د جوړولو کار په ښه ډول روان دی.

دغه سړک د ۷۷۷ متره په اوږدوالي او د ۲۰ شل متره په پلنوالي د کرماشي سیمه کې د میرزکي لین عمومي سړک سره وصلیږي، چې د ښاروالۍ له پراختیایي بودجې پرې ۲۸ میلیونه افغانۍ لګښت راځي.

ګردیز ښاروال حبیب الله اخندزاده حامد د دې حیاتي پروژې څخه د لیدنې پر مهال د ښاروالۍ انجینرۍ برخې پر مسؤولینو ټینګار وکړ، چې د ډیزاین او سړک جوړونې معیارونو په برخه کې هره ورځ د دې مهمې پروژې د غوره پلي کېدو څارنه وکړي.

یاد سړک چارې د محراب نور ساختماني او سړک جوړونې شرکت له لوري په خورا ښه او لوړ کیفیت سره ترسره کېږي.

تمه کېږي چې د دغه سړک د مسیر اوسېدونکي هم د دې ستري پروژې په پلي کېدو کې له ګردیز ښاروالۍ سره همکاري وکړي، ترڅو یې کار پر مخ ولاړ شي او د ښار په اقتصادي وده او پراختیا کې ګټور تمام شي.

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## پلخمري ښار کې د بیارغونې کارونه بیا ځلي شروع کېږي


بغلان ۸۷

د ښاروالی ریاست د پراختیایي پروژو تخنیکي تیم د سړک جوړونې لپاره د خاورې معاینه او ټیسټ کولو بهیر ترسره کړ چې له نیکه مرغه ۹۸ تر ۹۹ سلنه یې نتیجه ورکړې ده، دغه سړک چې ۱۵۰۰ اوږدوالی او ٦ متره پلنوالی لري، یوه برخه یې ۵۰۰ متره کانکریټ اچولو لپاره چمتو شوې ده، چې وروسته به یې د ښاروالی مسؤولینو له لورې د کانکریټ اچولو لړۍ پیل شي.

## مزارشریف ښار کې د ۳۵ میلیونه افغانیو په ارزښت څلور پرمختیایي پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې


مزار شریف ۸۸

د مزارشریف ښاروالی له خوا او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د دفتر په مرسته مزارشریف ښار کې د سطحي اوبو لا ښه مدیریت په موخه د کانال جوړونې څلور پروژې د ښار په پنځمې، لسمې او یوولسمې ناحیو کې د څه باندې ۲٫۵ کیلومتره په اوږدوالی او ۳۵ میلیونو په ارزښت بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې چې پرمهال یې د مزارشریف ښاروالی مرستیال مولوي محمد نسیم عابد، د ښاروالی سکتوري او تخنیکي رئیس استاد محمد جاوید مایار، د ښاروالی خارنې او ارزونې امر ډیپلوم انجنیر زلمي رحیمي، د ښاروالی د دفتر امر علاءالدین مسلمیار او د نوموړیو ناحیو ګذر وکیلانو او اوسېدونکو شتون درلود.

د نوموړو پروژو ګټې اخیستنې پرمهال د مزارشریف ښاروالی مرستیال مولوي محمد نسیم عابد وویل: الحمدلله د شکر ځای ده چې د مزارشریف ښلابلو برخو کې د پرمختیایي پروژو چارې په چټکۍ سره رواني او ښاروالی د شته امکاناتو پر مټ د ښاریانو ستونزو هوارولو لپاره هلې ځلې کوي.

همدارز ښاغلي عابد زیاته کړه نوموړو پروژو کې ډیر شمېر ښاریانو ته د مرستو د وېش په بدل کې د کار زمینه برابره شوې ده.

همدارنګه د مزارشریف ښاروالی سکتوري او تخنیکي رئیس استاد محمد جاوید مایار وویل: بشپړو شویو پروژو څخه ساتنه د ښاروالی ترڅنګ د ښاریانو مسؤولیت هم ده او ښاریان باید په دې برخه کې ښاروالی سره بشپړه مرسته وکړي.

د پنځمې، لسمې او یوولسمې ناحیو اوسېدونکو د مزارشریف ښاروالی له کړنو او فعالیتونو ستاینه وکړه او د نوموړو کانالونو له بشپړېدو یې خوښي وښوده چې ډېر کورونه به د سېلابو له خطره وژغورل شي.

## ښرنې ښاروالی ریاست اداري غونډه ترسره کړه



پکتیکا ۸۹

ښرنې ښاروالی ریاست د یاد ریاست په مقام کې د ښاروال په مشرۍ د ټولو اداري کارکوونکو په ګډون اداري نوبتي غونډه ترسره کړه، چې په مختلفو موضوعاتو پکې بحث او خبرې وشوې.

د غونډې په پیل کې د تېرې اداري غونډې د ترسره شویو پرېکړو او سپارل شویو مسؤولیتونو راپور شریک شو او اړوند مدیریتونو د خپلې برخې کارونو په تړاو معلومات وړاندې کړل.


د غونډې په دویمه برخه کې د خیاطانو صنف د انتقال پروسې پر چټکتیا ټینګار وشو او د یادې پروسې مسؤولینو ته سپارښتنه وشوه، چې په دې برخه کې پاتې کارونه بشپړ کړي.

د تېرو کلونو په څېر ښار کې د مارکېټونو د پاتې خامو سرایونو، کوڅو او خدماتي ساحو د پخولو لړۍ په بیا پیل پرېکړه وشوه، چې ژر به یې کارونه پیل شي.

همدارنګه د بازار اتحادیې، مشورتي بورډ او ښاروالی د هغې ګډې پرېکړې پر اساس، چې د ښار په مارکېټونو کې د تشنابونو سیستم د فعالولو، د مارکېټونو ترمیم او الکوبان لګولو په مورد ترسره شوې وه، تصمیم ونیول شو، چې ذکر شوي کارونه به د یو ځانګړي پلان له مخې په نږدې وخت کې پیل شي.

دغه راز په یو شمېر نورو ښاري موضوعاتو هم بحث او خبرې وشوې او د ترسره شویو پرېکړو د عملي کولو په هدف اړوندو مدیریتونو ته سپارښتنه وشوه، چې د خپلې برخې کارونه په خپل وخت تعقیب او سرته ورسوي.

## تنیو ښاروالی روان کال نیالګیو ته د اوبو رسونې چارې ترسره کړې


خوست ۹۰

د تنیو ولسوالی اړوند ښاروالی مسؤولینو روان کال نوې کېنول شوي نیالګي، چې په مختلفو ساحو کې یې کېنولي و، د پلان مطابق ټولو نیالګیو ته د اوبو رسونې کار ترسره کړ او هممهاله یې د څینو نیالګیو د ښه اوبو کولو لپاره مناسب ځایونه ترتیب کړل.

د یادونې وړ ده چې د تنیو ښاروالی مسؤولینو لومړی د پلان له مخې په مهمو ساحو کې نیالګي کېنول او د اوس د ساتنې او پالنې چارې د سیمې د اوسېدونکو په همکارۍ پر مخ وړي.

## غزني ښار د شېرېمې ناحیې مدیر د نوآباد د استنادي دیوال له رغنیزو کارونو لیدنه وکړه


غزني ۹۱

د غزني ښاروالی د شېرېمې ناحیې مدیر مولوي زبیر نن د نوآباد سیمه کې د استنادي دیوال له روانو رغنیزو کارونو څخه لیدنه وکړه.

یاده پروژه د غزني ښاروالی او یونیس مؤسسې په ګډو همکاریو د موسمي بارانونو او احتمالي سېلابونو د کنټرول په موخه پیل شوې ده.

په دې لیدنه کې مولوي زبیر د پروژې پرمختګ وڅېړه، له مسؤولینو یې د کار د کیفیت، سرعت او تخنیکي معیارونو د مراعات غوښتنه وکړه او ټینګار یې وکړ چې دا ډول بنسټیزې پروژې نه یوازې د ښاري نظم د تأمین بلکې د خلکو د خوندیتوب لپاره حیاتي ارزښت لري.

د غزني ښاروالی رهبري ژمنه ده چې د ښار د اوسېدونکو د هوساینې لپاره به داسې پروژې لا پراخې کړي او ټول کارونه به د شفافیت، مؤثریت او ښاري پرمختګ پر بنسټ ترسره شي.

## د قلات ښاروالی له لورې د زرغونتیا هڅې چټکې شوې


زابل ۹۲

د قلات ښاروال قاري رحمت الله مسافر د هدایت سره سم په ښار کې هغه ساحې چې د ورځې په جریان کې یې ګڼه ګوڼه زیاته وي د ښپې په حصه کې د زرغونتیا مدیریت د پرسونل لخوا د ونو خړوبولو چارې ترسره کیږي.

قلات ښاروالي د ښار د هټیوالو څخه غوښتنه کوي تر څو د ونو او نیالګیو په پالنه او ساتنه کې ورسره همکاري وکړي، ترڅو په راتلونکي کې د یو ښه چاپیریال او زرغون ښار شاهدان واوسو.

## اړینه خبرتیا

د میدان ښار ښاروالۍ اړوند یوه استوګنیزه نمره چې د ۲۱۰ شمېره لرونکې او په لومړۍ ناحیه سردار داود خان مینه کې موقعیت لري د ښاروالۍ ریاست د ملکیتونو د ثبت کتاب ته په کتو په پخوانیو کلونو کې څو نفرو ته توزیع شوې ده، چې اوس یاده ځمکه تر دعوی لاندې ده.

بناء ټول هغه اشخاص چې د یادې ځمکې اړوند اسناد په لاس کې لري د همدې خبرتیا د نشر له نیټې څخه په ۱۰ لسو کاري ورځو کې د موضوع د حل په موخه د ښاروالۍ ریاست د املاکو مدیریت ته تشریف راوړئ، ترڅو کومې کړنې چې په پام کې دي پر وخت ترسره شي.

میدان وردګ ولایت

## میدان ښار ښاروال د چرګانو غوښه پلورونکو سره وکتل




میدان وردګ ۹۳

د میدان ښار ښاروال ښاغلي ملا رازمحمد فاروقي د چرګانو غوښه پلورونکو سره وکتل او د دوی ستونزې یې له نږدې واوریدې.

دا په داسې حال کې ده چې د ښاري نظم په پار ټاکل شوې کمیټې له لوري د څو ورځو په جریان کې د میدان ښار بازار د پلو لارو د خلاصون چارې روانې دي، دا چې زیاتره د چرګانو غوښه پلورونکي هم په پلو لارو کې په غیرمنظم ډول فعالیت لري، د کمیټې د غړو له لوري په پلو لارو کې د دوی فعالیت بند شوی دی، چې له امله یې یادو غوښه پلورونکو خپله ستونزه له ښاروال سره شریکه او د خپل فعالیت په موخه یې د ساحې د تعین غوښتنه وکړه.

په ورته وخت د ښاغلي فاروقي له لوري دوی ته ډاډ ورکړل شو چې د ښاروالۍ ریاست له لوري به په بازار کې د دوی د فعالیت په موخه ساحه ټاکل کېږي او له بازار څخه به ټول د چرګانو غوښه پلورونکي ټاکل شوې ساحې ته انتقالیږي.

پروژه سرک‌سازی در مسیر حمام روشن شهر فیض آباد بدخشان که پیش از این به دلیل برخی چالش‌های فنی و اجرایی با کندی مواجه شده بود، اکنون با رفع کامل مشکلات، با سرعت و جدیت تمام در حال پیش‌روی است و انتظار می‌رود در روزهای نزدیک این پروژه تکمیل و به بهره‌برداری برسد



بدخشان ۹۴

مدیریت خدمات مراجعین و سمع شکایات، صندق های شکایات که در نقاط مختلف شهر قلعه نو ولایت بادغیس نصب گردیده اند بازگشایی نمود .هدف از گشایش صندق های شکایات بررسی و جمع آوری شکایات شهروندان جهت رسیدگی به آن توسط کمیته رسیدگی به شکایات می‌باشد.




بادغیس ۹۵

آبیاری ساحات سبز و نهال های حاشیه جاده های گذر عیدگاه واقع ناحیه اول شهر قلعه نو توسط شاروالی قلعه نو بادغیس توسط کارکنان تنظیف و سرسبزی جریان دارد.



بادغیس ۹۶

شاروالی هرات کار پروژه‌ی زیرسازی سرک ۳۵ متره در غرب امام فخر رازی، در ناحیهء دوازدهم شهر هرات به طول مجموعی ٤٥٦ متر و سنگ‌کاری کانال‌های دو طرف مسیر به طول ۹۰۰ متر، را که از سوی دفتر یونپس به هزینهء بیش از ۱۱ میلیون افغانی تمویل میگردد آغاز نموده و به سرعت جریان دارد.



هرات ۹۷

## ترینکوټ ښاروالۍ لخوا ښار څخه راټول کړې ۴۷۰ قلمه تر وخت تیر خوراکي توکي او درمل وسوځول



اروزګان ۹۸

د ترینکوټ ښاروالۍ، صنعت او سوداګرۍ ریاست، د عامه روغتیا ریاست اړوند د خوړو او درملو امریت په هڅو د ښار له هټیو څخه د دریو میاشتو په موده کې تر وخت تېر او بې کیفیته توکي را ټول او له منځه یوړل شول.

د ترینکوټ ښاروالۍ اړوند د تخنیکي او مسلکي چارو مسؤولین وایي، چې د ښار څخه را ټول شوی ۴۷۰ قلمه تاریخ تیر خوراکي توکي، ټیټ کیفیته توکي او درمل د تعین شوې کمیټې لخوا را ټول او وسوځول شوه.

د یادونې وړ ده، چې د خوراکي او غیرې خوراکي توکو د کیفیت سمولو، او تر تاریخ تیر درملو د نه استعمال په هدف د روزګان ولایت مقام لخوا د ملکي او نظامي ادارو څخه یوه کمیټه جوړه شوې چې یاده کمیټه به په ګډې همکارۍ د بازارونو د کنټرول لپاره خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوي، تر څو متضرره خوراکي توکو مخه ونیول شي.

## ایســتگاه‌های کــه در کنارجاده امــام بخاری رحمه الله موقعیت داشــت، توســط ریاســت شــاروالی انجیل ولایت هرات رنــگ آمیزی و ترمیم کاری گردید.


هرات ۹۹

## د ګرشک ښار د یو شمیر قصابانو څخه نظارت ترسره شو


هلمند ۱۰۰

د ګرشک ښاروال د هدایت په اساس د ګرشک ښاروالۍ د تنظیم ګډ پلاوي د ګرشــک ښار د یو شــمیر قصابانو څخه لیدنه وشوه.

د ښار قصابانو ته د ښــاروالۍ د اصولو مطابق نرخنامې وویشــل شــوې او همدارنګه د نظافت په برخه کې ورته اړیني سپارښتنې وشوې.

## د خلورمې حصې د بندو لارو د خلاصولو چارې دوام لري


هلمند ۱۰۱

د ګرشــک ولسوالۍ د ښــاري نظم ګډ کمېسیون چې د ګرشــک ولســوالۍ، قمندانــۍ، امربالمعــروف، استخباراتو، ښــاروالۍ، او ترافیکو استازو، په کې ګډون لري د ګرشــک ولسوالۍ د څلورمې حصې د بندو لارو او غصب شــوو ځایونو د خلاصون په برخه کې عملي اقدام وکــړ. چې ډېر ژر به غصب شــوي ځایونه له غصب څخه خلاص او بنــدې لارې به د خلکو پر مخ خلاصې شي.

دا ګام د ښــاري اصلاحاتــو او د خلکو د هوســاینې په موخه د امارت له مهمو هڅو څخه شــمېرل کیږي.

## د ننګرهار ولایتي ادارو لپاره د اداري کمپلکس د ځای د انتخاب په موخه ابتدايي سروې ترسره شوه.



جلال اباد ۱۰۲

د جلال اباد ښــاروالۍ پــه غوښــتنې د ننګرهار ولایت مقــام او ګډ هیت له لوري د ننګرهار ولایت ولایتي ادارو لپاره د اداري کمپلکس د ځــای د انتخاب په موخه له څلورو ځایونو څخه ابتدايي لیدنه او سروې ترسره شــوه.

د جلال اباد ښــاروالۍ د پلان آمــر انجنیر احمد جاوید جهانمــل وایي چې یادې څلور ســاحې د ۱۳۹۲ کال د ماســټر پلان له مخې انتخاب شوي چې د ولایت مقام او اړوندو ادارو په ګډې همغږۍ او مشورې سره به یو ځای انتخاب شي.

یــاد اداري کمپلکس بــه په ۴۵۰ جریبــه ځمکه کې د ننګرهار ټولو ولایتي ریاســتونو، قونســلګریو، مســتقلو امریتونــو، او بانکونــو لپاره په نړیوال معیار او ســتندرد جوړ شي.

په یاد ګــډ فني هیت کــې د ولایت مقــام، جلال اباد ښــاروالۍ، ښهرســازۍ ریاســت، زراعت ریاســت او د ننګرهار وادي کرنیز امارتي شرکت اســتازي شامل دي.

د یــاد اداري کمپلکس په جوړیــدو سره به د جلال اباد ښــار ښــاري ګڼه ګوڼه راکمــه، غــوره اداري همغږي رامینځتــه او عامو خلکو ته به د ورځنیو رســمي چارو د ترسره کېدو لازمي اســانتیاوې رامینځ ته شي.

## د جلال اباد ښاروال قاري بلال او ورسره مل پلاوي د لومړۍ ناحیې سولې پارک د ځمکتلې څخه لیدنه وکړه



جلال اباد ۱۰۳

د جــلال ابــاد ښــاروال قاري بــلال، د علماوو شــورا مرســتیال مولوي لعل محمد صدیقي او ورسره مل پلاوي د لومړۍ ناحیې د ســولې پارک د ځمکتلې (زیر زمیني) څخه لیدنه وکړه.

د لیدنــې پر مهال د یاد ځمکتلې د هټۍ والو یو شــمېر ســتونزې له نږدې واورېدل شــوې او د حل په موخه یې بشپړ ډاډ ورکړ شو.

د جلال اباد ښــاروالۍ رهبري هڅه کوي چې د ښاریانو او هټۍ والو ستونزو ته په مســتقیمه توګه رسېده ګې او وکړي او د حــل په موخه یې لازم اقدامات ترسره کړي.

## مزارشریف ښــاروالۍ د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې ترسره شــوو کړنو او فعالیتونو په اړه ښاریانو تــه معلومات وړاندې کړل

مزارشریف ښــاریانو ته د روڼتیا او حساب ورکولو په موخه مزارشریف ښــاروالۍ د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې ترسره شــوو کړنو او فعالیتونو په اړه د ښــاروالۍ غونډو تالار کې ښاریانو او رسنیو ته معلومات وړاندې کړل.

دغه غونډه کې د مزارشریف ښاروال حافظ عبدالرحمن همت، د ښاروالۍ ښاري حکومتولۍ رئیس مولوي حزب اللّه مهاجر، د ښــاروالۍ ســکتوري او تخنیکي رئیس اســتاد محمد جاوید مایار، د ښــاروالۍ مالي او اداري رئیس قاري عبدالحمید عاصم، د ښــاروالۍ دولسګونو ناحیو امرینو، ګذرو وکیلانو، مشــورتي شورا رئیسانو، د جوماتــو امامانو، ســپین ږیرو او مخــورو قومي مشرانو ګډون درلود.

غونډه د قرانکریم خــو مبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شوه، وروسته د مزارشریف ښــاروال حافظ عبدالرحمن همت د غونډه ګډونوالو ته ښه راغلاست ویلو ترڅنګ یې حکومت له لــوري ملت د روڼتیا او حســاب ورکولو پر اهمیت خــبرې وکــړې او وې ویل ښــاروالۍ یوه غیر بودجوي اداره ده چې د ښــاریانو څخه عواید په شفاف ډول راټولوي او د ښــار ابادۍ او پرمختګ په موخه یې مصرفوي، ښار زموږ او ستاسو ګډ کور ده باید په ګډه یې د ښبرازۍ او زرغونتیا په برخه کې هڅې وکړو.

همدارز ښــاغلي همت زیاته کړه د ښــاروالۍ دروازه هر وخــت ښــاریانو پر مخ خلاصــه ده کولی شــئ خپل وړاندیزونه او ســتونزې له نږدې موږ سره شریکې کړې، ښاري نظم ټینګښت او ښاري مېشتېدنې کلتور پیاوړتیا په برخه کې بایــد په ګډه سره کار وکــړو ځکه زموږ او ستاسو ګډ مسؤولیت ده.

همدارنګه د ښاروالۍ درې ګونو ریاستونو په خپل وار سره د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې ترسره شوي کړنو او فعالیتونو په اړه ښاریانو ته په بشپړ معلوماتو وړاندې کړل.

د مزارشریف ښــاروالۍ سکتوري او تخنیکي رئیس استاد محمد جاوید وویل د مزارشریف ښــار ابادۍ او پرمختګ لپاره تیر کال ۴۳ ورې او غټې پروژې منظور شوې وې چې ۲۰ پروژو چارې بشپړې شوې او پاتې پروژو چارې به ډېر ژر بشپړې شي.

همدارز ښــاغلي مایار د مزارشریف ښار پاکوالي او ښاري نظم ټینګښت په برخه کې ترسره شوو کړنو او لاسته راوړنو په اړه تفصیلي وینا وکړه.

د غونډه په پای کــې ازاد بحث ترسره شــو د مزارشریف ښاریانو پوښتنو ته د مزارشریف ښاروالۍ مسؤولینو له لوري ځوابونه ورکړل شوه.

مزار شریف ۱۰۴